مورچل

نهم کال اتمه، پرلپسې ۸۴ یمه ګڼه، شوال المکرم
ذو القعدة الحرام ۱۴۳۶ هـ ق، اګست 2015م

یرغلګراو نوکران یې له اټکلونو زیات وځپل شول !

امیرالمؤمنین رح په مورچلونو کې !!

د اسلامي امارت دنوي تاکل شوي امیر ملا اختر محمد (منصور) حفظه الله پیژندنه !

کابل میشتي رهبران بیا څه کوي؟

دبانک نوټ شرعي حیثیت

د طالبانو نوی امیر تاکنه اعتراضونه او ځوابونه

عملیات برق آسای مجاهدین...

مورچل

نهم کال اتمه، پرلپسې ۸۴ یمه ګڼه، شوال المکرم ذوالقعده الحرام ۱۴۳۶ هـ ق، اګست ۲۰۱۵ م

علمي، سیاسي او جهادي میاشتینی خپرونه

لړلیک

ګڼه	مطلب	مخ
۱	یرغلګر او نوکران یې له اټکلونو زیات وځپل شول .	۱
۲	امیر المؤمنین (رح) په مورچلونو کې	۲
۳	داسلامي امارت دنوي ټاکل شوي امیر	۷
۴	کابل ښېشتي رهبران بیا څه کوي ؟	۱۷
۵	دطالبانو نوی امیر ټاکنه ، اعتراضونه او ځوابونه ...	۱۹
۶	عملیات برق آسای مجاهدین	۲۵
۷	دطالبانو پر مختګونه دداخلي عسکرو وړتیا	۲۶
۸	له الشرق الاوسط ورځپاڼي سره په تازه جریاناتو ...	۲۸
۹	غلامي ځیرې وپیژنئ !	۳۵
۱۰	فقهي څیړنې	۳۶
۱۱	آیاواقعا موسیقی غذای روح بشر وموجب	۴۴
۱۲	په الله (ج) باندې یقین ستاپه ژوند کې څه	۴۷
۱۳	آیانعمت های بهشت را می شناسیم ؟	۵۱
۱۴	په نړۍ کې څه باندې یو نیم ملیارد مسلمانان	۵۴
۱۵	طالب جنګیالیو دوه مشهور جنرالان پر ګوندې	۵۶
۱۶	جنګي جنایتونه (جولای او اګست) میاشتي	۵۹
۱۷	عبدالله فرزند عمر بن الخطاب (رض)	۶۴
۱۸	میاشتنې خبرونه	۷۰
۱۹	دمورچل وړمې	۸۶
۲۰	دتلفاتو جدول	۱۷۴

د امتیاز خاوند

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر

شکـــور (شفق)

کتـــنپلاوی

حـــسن خپل | ایـــوب صـــافی
حـــسن زوی | حکمت بغلانی
زبیر مـــسافر | حافـظ سعـــید

تخنیکي چارې

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل ښار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر

E-mail: baakhtaraf@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

یرغلګر او نوکران یې له اټکلونو زیات وځپل شول !

ځنګه چې تمه وه، هماغسې وشول ،داسلامي امارت مجاهدینودشنناندو او کتوونکیو له وړاندوینې نه زیات په پوځي او سیاسي ډګرونو کې پرمختګونه وکړل او دامریکایانو او لویدیځوالوځوارلس کلنې هڅې یې په سیند لاهو کړي ،ددې سربیره چې نړۍ دتېولې نړۍ رسنۍ دکابل دمزدورې اداړې لپاره پرسول شوي درواغ او له مبالغې ډکې خپرونې کوي، خو ددې سره یې دومره هم ونکړای شول چې دشړیدلې (نا ملي اردو) اودکابل دګډوله اداړې متزلزلې مراندې راټینګې کړي او دناروغۍ له کوما حالته یې وژغوري !

خپلواکوتحلیلګرانولا له مخکې څخه ددې اټکل کاوه، چې که چیرته بهرني عسکر ووځي، نو دکابل کاواکه اداره به ډیره ژر رانسکوره شي او دطالبانوقافلې به بیا دکابل په څلور لارو فاتحانه کابل ته ورننوځي ،دوئ چې دطالبانو سرښندنې او داسلام سره یې بې کچه مینه کتله، نولا له مخکې نه یې ددوئ دفتحې اټکلونه کول ،اوس چې یرغلګر په بشپړ ډول له هیواده نه دي وتلي اونه یې پوځي شتون ته دپای ټکی ایښی ،یوازې دومره شوي، چې دخپلو عسکرو دنجات لپاره دپلې جګړې په میدان کې له لومړۍ لیکې څخه شاتګ کړی او هوایي ځواک یې دپخوا په څیر دمجاهدینو په وړاندې نابېره بریدونه کوي، خو کتل کیږي چې په شمال ،سویل ،ختیځ او لویدیځ هیوادکې بسته بسته ولسوالۍ دمجاهدینو په لاس فتحه کیږي او لسګونه شوبلې ،پوځي عرادي ،ثقیله او خفیفه وسلې دمجاهدینو لاس ته ورځي ، کله دکندز،سرپل ،تخار،بدخشان ،فاریاب ،بغلان ،بادغیس ولایتونو کې دولسوالیواوبیسونود فتحې تکبیرونه زمزمه کیږي او کله بیا دهلمند ،ارزګان ،زابل او نورو خیځو ولایتونو کې دموسی کلا او نوزاد په څیر سترې سترې تاریخي ولسوالۍ فتحه کیږي !

دعزم دعملیاتو ګړندي بهیر دکابل زورواکانو ته وښوده، چې که چیرته مو غربي بارانو درڅخه کډه شي، نو شوني ده، چې دواک عمر به مو دمازدیګرسیوری وي ،او مجاهدین به دلوی څښتن تعالی په مرسته او دخپل مسلمان ولس په ملاتړ وکړای شي، چې ستاسو له سره داجباري واک تاج را ښکته کړي او دشریعت محاکمې ته مو وسپاري .

تجربو ښودلې چې افغانان نه له اسلام پرته بل دین مني ،نه پردی تهذیب ، نه دخارجیانوتلپاتي شتون او نه هم پکې غلام حکومتونه پایښت کولای شي ،دکابل اوسنۍ اداره او ددې اداړې په اصطلاح ملي اردو ! چې ددې پورتنیو قباحتونواومنفورو ظروفو بڼه لري ،نه په ډیني ارزښتونو جوړه شوي اونه هم په افغاني ټول تلل شوي ،همدابدمرغي یې دزوال او نسکوریدا دلایل او عوامل دي ،لیرې به نه وي، چې داټکلونو سره سم یې مرکزي هسته له بیخه ونړیږي او پرځای یې داسلام سپین توغ ورپیږي !

انشاءالله تعالی

امیر المؤمنین (رح) په مورچلونو کې !!

(مفتي شاهد)

دالازهر نړیوال پوهنتون استاد (محمود الثاني) دمحترم امیرالمؤمنین رح په باب څه ښه ویلې :

امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد په اوسنۍ نړۍ کې یو بې مثله خپلواک ، پر خپلو خواهشاتو حاکم او داسلامي نړۍ یو دردمند واکمن و ، هغه ستر ګي ډیر مبارکي دي چې دا منوره څېره یې پرې لیدلي ده . الله ج دې رحم پري وکړي .....)

دشلمې میلادي پیړۍ وروستي کلونه او د یوویشتمې پیړۍ رومبۍ یوه نیمه لسیزه دافغانستان دمعاصر تاریخ هغه پړاو یا پیر دی، چې دمحترم امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهدرح له میړانو ډک نوم دغرب بتکدي دویر په تال کې وځنګولې او دزړې قرطبې ،جبل الطارق ،کاشغر ،فرغاني ،قفقاز ،بخارا او سمرقند غوندې یې د هیر اسلامي تاریخ دعظمتونو ،علمي ، سیاسي ،اقتصادي او پوځي څلې بیا داسې هسک او ورپول ،چې دلویدیځوالو کنګري یې له دهشت او ویرې رنګې بنګې اوداسلام دتېر وعظمتونو مرحلې ته د بیا اعادي له ویرې یې خوسا او خورین یرغلیز برجونه بیا کوشیر او ټولې رقیبې خواوې د واشنګټن ،لندن ،پاریس ،او آن د زاړه حریف (کرملین) خونکاران هم ورسره د(بروکسل) دکلیسا په کنګرو کې راټول اوپه یوه غږ دیویشتمې پیړۍ دامیرالمؤمنین مقابلې ته یوه خوله شول.

نړیوالو کفري حکومتونو لاله وړاندې، دنومورې پر حکومت هر اړخیز اقتصادي تعزیرات وضع کړي ،داسلامي امارت وزیران یې له خارجي سفرونو څخه منع کړي اودامارت اسلامي په رسمیت پیژندنه خو دا مهال ددوئ په تورو عینکو کې یوه ناڅرګنده هیولا بریښیده ،ټول هغه بشري مظالم ،چې له صدر اسلام څخه را وروسته په اسلامي حکومتونو لویدیځوالو کړي، په ډیره سپین سترګۍ بیا دنوعیت په بل رنګ کې تکراریدل او اسلامي امارت او افغان مسلمان ولس دخپل اسلامي او تاریخي خپلواکۍ د ویاړونو په جرم !! ځپل کیده اودا تسلسل تر هغې پورې روان و ،چې څو لویدیځو اشرابانو دناټو تر سیورې لاندې په (۲۰۰۱ز) کال دنړیوالو سوداګریزو مرکزونو په تښ کې، پرې پوځي یرغل وکړ او دمظلومانو او یتیمانو په اوښکو رغول شوی اسلامي امارت یې له سیاسي جغرافیې لیرې کړ او پرځای یې داسې بدنامه او ناکامه اداره جوړه کړه،

چې نه اسلامي او نه افغاني هويت پکې خوندي دی او پدې تيرو پنځلسو کالو کې نږدي (۵۰) پنځوسو هيوادونو ونکړای شول، چې ټولمنلی او ريښي يې غښتلې کړي !

ديويشتمې زيږيزې پيړۍ امير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد رح دخپل واک په کمه موده کې، چې کله په (۱۴۱۵هـق) کال د محرم الحرام د مياشتې په (۱۵) نيټه کندهار کې اسلامي امارت تاسيس او بيا په (۱۹۹۶ز) کال په اپريل مياشت /۱۳۷۵ش کال د حمل له ۱۲ نيټې ديونيم زرو علماء کرامو او روحانيونو لخوا ملا محمد عمر مجاهد رح د امير المؤمنين په لقب ونومول شو، په (۱۳۷۵ل) کال د ميزان د مياشتې په (۱۵) نيټه چې کله د طالبانو د اسلامي تحريک لخوا کابل فتحه شو، نونږدي دواک د مهال د شپږو کالو په بهير کې يې تر (۱۳۸۰ل) کال د ميزان د مياشتې تر (۱۵) نيټې پورې چې د امريکا په مشرۍ ديرغل تورې ورځې وي، نومورې امير رح دومره شهکاری او د ميړانې زرين بابونه د تاريخ حافظې ته وسپارل، چې د تاريخ هيرو کړيو هغو شاهانو به هم دخپل ځلوينښت کلن او پنځوست کلن واک په مهال نوي تر سره کړي، چې هاغه دچا خبره په امپراتوريو کې لمر نه ډوبيده او يا د قيصر او کسری غوندې مالي او پوځي دبدبه يې درلوده، نومورې راتلونکې مسلمان توکم ته دومره کارنامې پريښودي، چې د راتلونکيو نسلونو دبا انصافه مؤرخينو د قلمونو رنګونه به وچ کړي، خو په راټولولو او ليکلو کې به يې پای ته ونه رسيږي.

د دې سربيره چې نومو تي امير المؤمنين د تحصيل يا طالبۍ له دورې وروسته کلونه ټول په جهادي مورچلونو کې تېر شوي، لومړی يې د روسي ښکيلاک په وړاندې توپک په اوږه کړی او تر وروستي کمونست پورې په مورچلونو کې پاتې شوی او چې بيا د توپکسالانو فاسده دوره راغلې او د جهاد ثمرات د ضايع کيدو ډنډ ته لويدل، ګران افغانستان ټوټه ټوټه کيده او د کولاب او تهران علمبردانود (احمد شاه بابا) معاصر افغانستان دځينو ناقبت انديشو او قسي القلب متعصبينو په نشتر زخمي کاوه، نو ديوه زمريالي او ننګيالي مسلمان افغان په حيث ورته په مقابل کې ملا محمد عمر اخوند رح پاڅيد او د دې سخت زړو توپکوالو او د دوئ بادارانو ته يې دقال او حال په اورنۍ لهجه خطاب کې وويل: چې نور ستاسو د قساوت، فساد، اسلام دښمنۍ، افغان ضد ارادو، ظلمونو او تجاوزاتو وخت تېر دی، اوس د محمدي ص د مطهره شريعت دور دی، اوس د عدل او انصاف دور دی، د ځمکنۍ بشپړتيا او خپلواکۍ دور دی او اوس هغه وخت بيا راغی، چې د څوارلس کلن جهاد ثمرات افغانان او ټول مسلمانان ووينې، د مظلومانو، کونډو او يتيمانو اوښکې به وچيږي او د نړۍ د کفارو لپاره به افغانستان وزلوبی نه، بلکې دا به د نړۍ د مظلومو مسلمانانو او نړيوالو مجاهدينو د دمې او ارام کور وي !

د دې دومره ښيګڼو او محاسنو سربيره بيا هم د نړۍ مستبدو هيوادونو د امير المؤمنين رح حکومت ونه شو زغملای، نومورې کوم ډول ناجايز بشري تخلف هم نه و کړی اونه يې د نړيوالو

مشروع حقوق تر پښو لاندې کړي وو ،داهر څه تقریباً سم دم وو ،دیوه حکومت په حیث یې نړیوال معیارونه هم برابرکړي وو ،دولس دا کثریت ملاتړ یې درلود ،دافغانستان ډیره بلکې ۹۵٪ خاوره یې تر ځواک لاندې وه اوپلازمینه یې هم په تصرف کې وه، چې دادیوه حکومت نړیوال مشروعیت ضمانت وي ،خو بیا هم دنړۍ جابرو حکومتونو دامیرالمؤمنین رح حکومت تر پایه دځو ګوتو شمیر دولتونو څخه پرته په رسمیت ونه پیژند او نه یې ورته نړیوال حقوق ورکړل ،ترپایه یې ورسره دښمني وکړه، څو چې یې دهیواد ځمکه او هوا په بارودو لوغرنه اوخپلې غلامې څیرې یې دالوتکو له وزرونو څخه ارګ کې کښته کړي او دافغانانو له عقایدو او روایاتو څخه خلاف نظام یې پرې په لوی لاس مسلط کړ.

خو امیرالمؤمنین بیا هم ددوئ په وړاندې لکه دیوه جګ غرهسکه غړۍ ولاړ وو او تر پایه یې ورسره په نره مقابله وکړه ،په خپل تندي یې دتسلیمۍ ،سرکوزۍ او شکست داغ کښینښود او نه یې راتلونکیو مسلمانو نسلونو ته پیغور پریښود .

دامریکایانو له یرغل څخه وروسته محترم امیرالمؤمنین نه پخپلو تګلارو پښیمانه شوی ،نه یې یرغلګروته سرټیټ کړی او نه یې دپګړۍ دشملې ول دویرې او بزدلۍ باد وهلی، بلکې لکه څنګه چې یې له خپل ولس او مجاهدینو سره ژمنه کړي وه، دتورو غرونو رغونو او مورچلونو سرلاړی پاتې شوی او دوفات ترورځې پورې یې، داسلامي امارت دمجاهدینو قیادت کړی ،داموضوع چې چیرته او کوم ځای کې به اوسیده ،کره معلومات دادي چې مشرملاصیب دافغانستان په داخل کې کوم سویلې ولایت کې اوسیده ،همدا خبره داسلامي امارت اعلامیه هم تاییدوي اودهمدې خبرې توثیق کوي، چې تر پایه له هیواده ندی وتلی ، دې سره ټول هاغه شکونه او شبهات له منځه ځي، چې ځینو مغرضو خلکو دمشر ملاصیب په باره کې کول.

یوه بهرني لیکوال ملاصاحب داسې تعریف کړی:

(هغه د اسلام په خاطر خپله جوړه پاچاهي قربان کړه او په وروستۍ ورځ چې په قندهار کې د خپلې پاچاهۍ له مرکز څخه په خپل هونډا موټرسایکل د افغانستان د مغرورو غرونو په خوا روان و، نو په تندي یې له الله پرته بل چاته د سجدې خاپ نه ښکاربده.....) .

امیرالمؤمنین رح همداسې دیو پیاوړې شخصیت او پخې ارادې خاوند وو ،یوه ملګرې دیوبل کس په حواله دمشرملاصیب دسقوط شیبې داسې انځور کړي: امیرالمؤمنین رح دکندهار دسقوط په شیبو کې خپل فامیل راټول کړ او ورته یې خپله وروستۍ توصیه کې وویل: چې نورې زما او ستاسو لارې جلا دي !! زه به په یوه خواځم او تاسو به په بله خوا ځئ !کیدای شي زما او ستاسو دیدن بیا دې نیمګړې دنیا کې ونشي ،که فتحه راغله او څښتن تعالی مونږ پر یرغلګرو کفارو باندې غالب کړو ، نو به مو سره دیدن وشي او یو بل به وویني او که نه، نو دقیامت په ورځ به سره بیا دیدن کوو .....)دانو بیا داسې لحظې وې ،چې دستر ګو څخه به داوښکو رودونه بهیدل او مشرملاصیب دخپل اولاد ،ماشومانو او اهل بیتو

څخه دفراق او همیشنی جدایي پریکړه کوله ، دیو پلار او دکور دمشر لپاره ربښتیا هم دخپل اولاد یا فامیل په باب دایوه سخته فیصله وي، چې امیرالمؤمنین رح ورته زړه ښه کړ او داسلام او جهاد په خاطر یې دا ډول سختې پریکړې وکړې ،اوپه خپل هوډا موټر سایکل ترې دکوم نامعلوم ځای په لور لاړ !

دامریکایانو له یرغل وروسته امیرالمؤمنین رح خپل جنګي تکتیک بدل کړاو دیرغلګرو دشکست لپاره یې داسې جنګي تګلاره جوړه کړه، چې پایله کې یې داسلامي امارت خواره واره مجاهدین بیرته منسجم او ددښمن دپرمختللې تکنالوژۍ په وړاندې یې یوه بې ساري مقاومت وکړ.

مشرملاصیب او طالبانو خو دکندهاراوکابل مراکزپرېښودل، خو دغرونو ،درو او شیلو له مورچلونو څخه یې پر غلیمانو دترپ او خرپ داسې تاوده چریکي عملیات پیل کړل، چې یرغلګریې دمقابلې او له منځه وړلو ته ګوته په غاښ شول ،داسې نه وه ،چې ملامحمد عمر مجاهد رح دیو ه اسلامي امیرپه توګه کوم ځای کې پټ شوی او یایې دمقاومت روحیه نه وه ،بلکې دیرغلګرو په وړاندې ددې ټولو جنګونومشري او قیادت همده کاوه او دخپلو ځانګړیو استازو په ذریعه به یې دامارت چاروا کیوته دکیسټ او ثبت شوي غږ په توسط لارښوونې رالیږلې اوهدایات به یې ورکول.

که خبره رالنډه کړو نو دامیرالمؤمنین رح جهادي او سیاسي ژوند په درې کټګوریو ویشلای شو:

الف:دروسانو په وړاندې وسله وال جهاد : دنومورې جهادي کانارمې خورا ډیرې دي ،رومبی یو عادي مجاهد ،بیا سرګورپ او بیا دخپلې اتلوالې په برکت دمسلمانانو مشر شو،دده په باب مشهوره ده ،چې دخپلې محاربوي وړتیا ، دروسانو او کمونستانو پرخلاف دډیرو جګړواو حربي ذکاوت له املهدنورو خفیفه وسلو سربیره دراکټ لانچر یا (G-P-R) په ویشتلو کې یې ډیر مهارت درلود ،نو ښکاري چې ددښمن ډیر پوځي وسایط او شوبلې به یې به یې له منځه وړې وي او داسلام دډیرو دښمنانو سرونه به یې خاورې کړي وي ،چې دا دده دډیرې پیاوړې قهرمانۍ او اتلوالې څرګنده بیلګه ده.

ب: دیو واکمن امیرالمؤمنین په توګه:ددې سربیره چې په هیوادکې یې شریعت پلی کړ،امنیت یې راوست ،عدالت او انصاف ته یې ځمکه هموار کړه، افغانستان یې دنړۍ دمظلومانولپاره دپناه ځای اود هوساینې هستوګنځی جوړ کړ،ترځنګ یې دشروفساد پرضد پخپله مجاهدین رهبري کول او حتی یو وخت داسې راغی، چې دشمالي سالنګ څخه طالبان په شا شول او دجګړې لومړۍ لیکه دکابل شمالي سیموته راورسیده، نو ویل کیدل، چې پخپله مشرملاصیب دجنګي کړنو لیدواو سوق الجیشي ارزونې لپاره دکابل مورچلونو ته راغلی وو ،نومورې نه یوازې داچې په اداري چارو بوخت وو ،دجهادي مورچلونولارښوونه یې پخپله کوله او داعلی قوماندان په صفت یې دجهادي چارو مشري کوله.

ج: امیرالمؤمنین دیرغل په کلونو کې: شک نشته چې د(۲۰۰۱)زکال څخه تر نن پورې ورځې پورې طالبان په یوه داسې جګړه کې بوخت دي، چې چاپې تصور نه کاوه ،طالبان دیوې پرمختللې تکنالوژۍ، دلرونکیو حکومتونو سره په جهاد بوخت دي ،داداسې یوه بې ساري جګړه ده، چې شونې کیدل یې یوازې افغانان او طالبان کولای شي ،نوددې نااندولې جګړې مشري او قیادت تر پایه محترم امیرالمؤمنین رح وکړاو همدا سټه اود غښتلې هوډ اوتکل خاوند وو ،چې دغرییانو ددومره لوی یرغل په وړاندې یې حوصله له لاسه ورنکړه ،ترڅو چې ناټو او امریکایانو هیواد کې دیرغل بیرغونه ښکته کړل او دجګړې لومړۍ لیکې ته یې خپله روزل شوي غلامه اردو وړاندې کړه.

نوپه لنډ وټکیو به ووایو: چې نړۍ د(۴۷)یرغلګرو هیوادونو په وړاندې دجهاد دقیادت ویاړ او افتخار یوازې او یوازې محترم المؤمنین ملامحمد عمر مجاهد رح ته په برخه دی اوده برکت دی، چې دوخت دا لویه امپراتوري هم سرکوزې او دشکست په مورګو ودریده !!

ملامحمد عمر مجاهد رح ،دمنبر واعظ ،دمحراب امام ،دنړیوالو کفارو په خلاف دجهاد علمبردار ،دافغانستان دویړ تاریخ مجدد او دیویشتمې پیړۍ هغه محبوب امیرالمؤمنین دی، چې مسلمان قام ته یې عظمت وبانبه او خپل ځان ،طالبانو ،افغانانو او ټولو نړیوالو مجاهدینو ته یې داسلام په تاریخ کې زرین بابونه جوړ کړل، ترپیړیو پیړیو به پرې نسلونه ویاړې او کارنامې به یې دضرب المثل په توګه په محاورو کې اوړې را اوړې !!!

دمجاهد مخې ته ورتلل اویادرخصتیدوپه مهال ورسره وتل څنګه دي؟

له مجاهدسره درخصت کیدوپه مهال وتل اودراتلوپرمهال ورتلل

پوښتنه : له مجاهدینو سره تریوځایه تلل یاچې هغه راځې مخ ته ورتلل څرنګه دی ؟

الجواب : دمجاهدینو سره درخصت کیدوپه مهال تریوه ځایه تلل ،اوچې کله له غزاء یاله سفره راستنیږي بیا مخ ته ورتلل ،یاله کلي اوښارڅخه وروتل مستحب اوسنة دي ، البته داهله که چېرته دمجاهدپه تودیع اواستقبال کې اخفاء مطلوب نه وه .

وفي سنن ابن ماجة رقم الحديث – ۲۸۲۴ حدثنا جعفر بن مسافر .....عن سهل بن معاذ بن أنس، عن أبيه، عن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: «لأن أشيع مجاهدا في سبيل الله فأكفه على رحله غدوة أو روحة، أحب إلي من الدنيا وما فيها»

وفي مصنف ابن شيبة : ۳۳۶۸۰ –تشييع الغزاة :حدثنا ابن أبي بكير، قال شعبة عن أبي الفيض، قال سمعت سعيد بن جبير الرعيني، عن أبيه، أحسست أن أبا بكر، شيع جيشا فمشى معهم فقال: الحمد لله الذي اغبرت أقدامنا في سبيل الله , قال فقال رجل: إنما شيعناهم , فقال: جهزناهم وشيعناهم ودعونا لهم.

وفي مختصر نيل الاوطار ۱۹۷\۵ ط م ش : وعن السائب بن يزيد قال : لما قدم رسول الله ؟ من غزوة تبوك خرج الناس يتلقونه من ثنية الوداع ، قال السائب : فخرجت مع الناس وأنا غلام . رواه أبو داود والترمذي وصححه ، وللبخاري نحوه .

مفتي ابوياسر

د اسلامي امارت د نوي ټاکل شوي امیر

ملا اختر محمد (منصور) حفظه الله پیژندنه !

بسم الله الرحمن الرحیم

(وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا وَإِنَّ اللَّهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ) [العنکبوت :(٦٩)

الحمد لله رب العالمین ، والعاقبة للمتقین ، والصلاة والسلام علی سید الانبیاء والمرسلین ، قائد المجاهدین نبینا ومولانا محمد علیه افضل الصلوات والتسلیم وعلی آله وأصحابه ومن اهتدی بهدیه اجمعین وبعد .

په مجموع کې د جهادي صف قیادي شخصیتونه له ځانګړیو قیادي صلاحیتونو څخه برخمن وي .

هغوي ته ډیر وخت دا صلاحیتونه په موهوبوي شکل حاصل وي او کله یې هم د خپلو نورو جهادي مسؤلینو لخوا د روزنې او تربیې په مهال په کسبي ډول تر لاسه کوي .

جهادي قیادتونه د الله تعالی له دین سره د خپل اخلاص او فداکاري له وجې د الهي ځانګړي مرحمت ، نصرت او مهربانۍ مورد وي ، الله تعالی په دې اړه فرمایي :

(وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا وَإِنَّ اللَّهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ) [العنکبوت :(٦٩)

د افغانستان اسلامي امارت چې په معاصر دور کې په نړیواله کچه د کفر او استبداد پرخلاف د جهاد او مبارزې یو مستحکم سنګر بلل کیږي تأسیسي قائدین یې لله الحمد په موهوبوي شکل د رهبري او مشرتابه له فوق العاده صلاحیتونو او مهارتونو څخه برخمن وي .

خپله د افغانستان د اسلامي امارت مؤسس مرحوم ملامحمد عمر (مجاهد) رحمه الله د قیادي صلاحیتونو یوه ژوندي مجموعه وه . نوموړي وکړای شول د جهاد او نړیوال کفر سره د مقابلې په ډګر کې د مسلمانانو د قیادت او رهبري صلاحیتونه په عملي ډول ځینو هغو مجاهدینوته تلقین کړي چې له ده سره په دې لاره کې د الله تعالی د نظام د حاکمیت لپاره ملګري ول.

امیر المؤمنین ملامحمد عمر مجاهد رحمه الله د یوه پوځي قائد ترڅنګ د جهادي مدرسې د جهادي زده کوونکو (مجاهدینو) یو روحي او اخلاقي مربي هم و.

د نومړي په قیادت کې عمري جهادي مدرسې ډیر داسې اشخاص تربیه اوروزلي چې هر یو یې دمسلمانانو د قیادت او د عصر په تر ټولو حساسو شرائطو کې د جهادي قیادت پوره وړتیا او صلاحیت لري.

په فکري او جهادي نهضتونو کې هسې هم تر شخصیاتو زیات محوري رول د مذهبي اساساتو وي، هلته هڅه د جهادي اوفکري انګیزې له مخې تنظیم وي ، قرآني ارشادات او د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم او خلفاء راشدینو کارنامي د نهضت د لارویانو اساسي تګلاره وي .

په دا ډول نظریاتي تحریکونو کې د قائد او مشر تابه اساسي مسؤلیت د خپلو افرادو او پلویانو نظریاتي او اخلاقي روزنه او هغوی ته فکري انګیزه ورکول وي.

مرحوم امیر المؤمنین ملامحمد عمر (مجاهد) دطالبانو په نوم داسلامي تحریک په پیل او بیا داسلامي امارت د تأسیس په مهال د راتلونکي جهادي قیادت او رهبري لپاره مخکې ترمخکې یو شمیر داسې بابصیرته او د قیادي مشخصاتو لرونکي مجاهدین روزلي چې کولای شي د جهاد او مبارزې په سختو او حساسو شرائطو کې جهادي قافله په مطلوب ډول تر منزل مقصود پوري ورسوي.

داسې زړور او غیرتمن شخصیتونو چې له هرډول ستونزو سره د مخامخ کیدو په صورت کې نه د وارخطایي احساس کوي او نه د خطرناکو زماني او مکاني شرائطو تر اغیز و لاندې راشي .

د دغو بابصیرته شخصیتونو او د عُمري مدرسي د متانت لرونکو شاګردانو له جملې څخه یو هم داسلامي امارت اوسني ټاکل شوی زعیم محترم ملا اختر محمد (منصور) حفظه الله دی چې په عملي ډول یې داسلامي امارت د قیادت چاري د عالیقدر امیر المؤمنین په حیات کې پیل کړې او د هغه د وفات تر اعلان وروسته داسلامي امارت داهل الحل والعقد معتبرو اشخاصو، علماء کرامو ، جهادي مخورو او نورو ملي شخصیتونو لخوا داسلامي امارت د نوي زعیم په حیث وټاکل شو.

سره له دې چې داسلامي امارت نوی امیر په جهادي او تحریکي حلقاتو کې یوه پیژندل شوې جهادي څیره ده خو د دې لپاره چې داسلامي امارت ټول مجاهدین او په اسلامي نړۍ کې داسلامي امارت ټول مینه وال د جناب منصور صاحب له جهادي او قیادي شخصیت سره بشپړ تعارف حاصل کړي مناسبه بولو چې د نومړي پر شهرت او معرفت باندې څو کرښې وکاږو.

الف : زوکړه یې

محترم ملا اختر محمد منصور د الحاج محمد جان زوی، په ۱۳۴۷هش ـ ۱۹۶۸م کال د کندهار ولایت د میوند ولسوالۍ په بند تیمور کلي کې زیږیدلی دی.

داچې د نومړي کورنۍ د خپلې سیمې په کچه یوه متدینه اوعلم دوسته کورنۍ او جناب والد صاحب یې یو علم خوښوونکی شخصیت و ، نو د جناب منصور صاحب د سالمې روزنې لپاره یې هغه ته لومړنی انتخاب د دیني زده کړو تر لاسه کول و.

ب: زده کړې یې :

جناب منصور صاحب په اوه کلنۍ کې د خپل والد صاحب په لارښونه د خپلې سیمې ابتدایي مکتب او د خپل کلي مسجد کې د ددیني زدکړو شعبې ته شامل کړای شو ، داچې پر نومورې باندې له ماشومتوب څخه د پوهې ، ذکاوت او بصیرت علامې ښکاره وي نو د خپل پلار ترڅنګ د استادانو لخوا هم تر خاصې روزنې او پالنې لاندې ونیول شو.

نومورې د خپل سرشاره علمي قابلیت له مخې وکړای شول په لیږ وخت کې خپلې لومړنۍ عصري اودیني زده کړې په بریالیتوب سره پای ته ورسوي او د منځنیو دیني زدکړو د حاصلولو لپاره یې دعلم په طلب پورې دمسافرۍ لاره ونیوله اولویو مشهورو مدرسو ته یې مخه کړه چې هلته یې هم د خپل فطري ذکاوت او نیکو اسلامي اخلاقو له مخې د خپلې سویې په زده کوونکو کې د تر ټولو ځیرک او اخلاقي طالب امتیاز تر لاسه او منځنۍ زده کړې پایته ورسولې .

جناب منصور صاحب لا د لوړو دیني زده کړو مرحلې ته نه و شامل شوی چې د افغانستان سیاسي واک د کمونستانو لاس ته ولویده او افغان مجاهد ولس د هغوی پرخلاف اسلامي پاڅون وکړ.

ج: جهاد او سیاسي مبارزه یې :

په کال ۱۹۷۸م کې په افغانستان باندې د شوروي اشغالګرو تر تیري وروسته افغان مجاهد ولس د هغوی پرخلاف اسلامي مقاومت پیل کړ .

د شوروي یرغل په منځنیو کلونو کې چې جناب ملا اختر محمد منصور د خپل عمر ځوانۍ ته ورسید او دامهال یې د شرعي زده کړو د تکمیل په غرض د زدکړو پاته مرحلې ته د شمولیت نیت درلود، د خپل جهادي احساس له مخې یې د شوروي اشغالګرو په وړاندې د مسلح جهاد په غرض خپلې زده کړې نیمګړې پرې ښودلې

خودهغې زیاتې مینې له امله چې له تحصیل سره یې درلوده چې کله به هم د جهاد له سنګرونو څخه راستون شو له خپلو خاصو استادانو څخه به یې پاتې سبقونه پیل کړل چې په همدې راسخ عزم سره یې خپلې شرعي زده کړې د وړې دورې په تکمیلولو سره د احادیثو تر لوړې دورې پورې ورسولې اونور یې په نهایي ډول د دیني مدرسې پرځای د جهادي جبهې پر لوري مخه کړه .

محترم منصور صاحب چې هغه مهال یې تازه د خپل عمر دوهمه لسیزه پوره کړې وه د یوه تکړه او باشهامته ځوان په توګه د یوه غیرتي مجاهد په حیث یې په شعوري ډول له خپل دین او هیواد څخه د دفاع په غرض د یرغلګرو شورویانو او داخلي کمونستانو په خلاف د وسله وال جهاد لاره ونیوله.

نومورې په کال ۱۹۸۵ م کې د جهادي فعالیت لپاره د کندهار ولایت د مشهور جهادي قومندان شهید قاري عزیزالله جبهه دخپل جهادي سنګر په حیث غوره او د پنجوایي ولسوالۍ په پاشمول سیمه کې یې د افغانستان په کچه د مشهور جهادي شخصیت الحاج ملامحمد حسن اخندڅوک چې د اسلامي امارت په واکمنۍ کې د ریاست الوزرا مرستیال و تر سرپرستي لاندې د شوروي اشغالګرو او داخلي کمونستانو پر خلاف جهادي فعالیت ته دوام ورکړ ،د شهید قاري عزیزالله جبهه د جهادي شخصیت مرحوم مولوي محمدنبي محمدي د حرکت انقلاب اسلامي په تنظیم پوري ملحق وه چې د قاري صاحب تر شهادت وروسته یې د قومندان ملا حاجي محمد اخند په مشرئ د جهادي شخصیت مولوي محمد یونس خالص په اسلامي حزب کې رسمیت تر لاسه کړ

محترم منصور صاحب په کندهار کې د شوروي اشغالګرو او د هغوی د داخلي ملاتړو پر خلاف په ډیرو پوځي عملیاتو کې فعاله برخه لرلې اویو ځلې په کال ۱۹۸۷ م کې د کندهار ولایت دپنجوایې ولسوالۍ دسنزري په سیمه کې دروسانو په یوه ستراتیژیک مرکز باندې دمخامخ عملیاتو په ترڅ کې په داسې ډول زخمي شو چې بدن یې دیارلس ځایه خوږ و خو الله تعالی ورته شفاور کړه ،دوهم ځل بیا د۱۹۹۷ م کال دمې په میاشت کې داسلامي امارت په واکمنې کې د مزار شریف په هوایې ډګر کې زخمي شو او په هغه زخمي حالت کې د مخالفینو لخوا اسیر هم شو.

د: د طالبانو په اسلامي تحریک کې یې تأسیسي رول

په کال ۱۹۹۲م په افغانستان کې د کمونستي نظام تر سقوط او داخلي جګړو پیلیدو وروسته جناب منصور صاحب د خپلې جبهې د نورو مخلصو مجاهدینو په څیر وسله پر ځمکه کیښودله او د واک پرسر دپیل کړل شوي ناروا جګړې په تداوم کې یې د هیچا پلوي ونه کړه.

منصور صاحب چې دا مهال یو نوم وتی مجاهد او د مجاهدینو په منځ کې له ښه شهرت نه برخمن و د یادې سیمې د نورو جهادي شخصیتونو او نظامي قومندانانو لکه مرحوم ملامحمد رباني ، شهید حاجي ملامحمد ،او شهید ملا بورجان په څیر د خپل عادي ژوند په غوره کولو سره له هر ډول تنظیمي فعالیتونو څخه لاس په سر او په ځینو علمي او تربیوي فعالیتونو مصروف شو.

په کال ۱۹۹۴ م کې د امیر المؤمنین ملامحمد عمر مجاهد لخوا د طالبانو په نوم داسلامي تحریک له تأسیس سره سم یې د دې تحریک په پرمخبیولو کې محوري رول ولوباوه.

نوموړي ته د ده د اداري او جهادي وړتیا له مخې د طالبانو د اسلامي تحریک د مشر له لوري یو شمیر مهم مسؤلیتونه وسپارل شول چې ځینې یې په لاندې ډول یادوو:

۱. په جنوب لویدیځ زون کې د طالبانو داسلامي تحریک تر بریالیتوب او د کندهار ولایت تر نیولو وروسته د هغه اعتماد له مخې چې امیر المؤمنین ملامحمد عمر (مجاهد) د جناب منصور صاحب په اداري لیاقت او فعالیت باندې درلود نوموړی یې د کندهار ولایت د هوایې ډګر عمومي مسؤل وټاکه.

۲. د طالبانو په لاس د کندهار ولایت تر نیول کیدو وروسته په کندهار کې د هوایې ځواکونو او هوایې مدافعې مسؤلیت ورته وسپارل شو.

۳. په کال ۱۹۹۶م کې د پلازمینې کابل تر نیولو وروسته د هوایې چلنداوسیاحت وزیر وټاکل شو.

۴. له وزارت سره هم مهاله د مرحوم امیر المومنین د ځانګړې هدایت او حکم پر اساس د دفاع وزارت مربوط د هوایې مدافعې عمومي قومنداني مسؤلیت هم ورته وسپارل شو.

د افغانستان د هوایې چلند او توریزم وزارت په ساحه کې یې یو زیات شمیر عمراني او رغنیز فعالیتونه تر سره کړي چې په مختصر ډول یې د ځینو تذکر کوو:

هغه مهال چې کابل ښار د اسلامي امارت تر ولکې لاندې راغی په دې ښار کې د هوانوردي وزارت تأسیسات او مربوط ملکیتونه د داخلي جګړو له کبله سخت متضرر شوي ول.

محترم منصور صاحب د خپلې رغنیزې تګلارې له مخې د یاد وزارت اړونده زیان منې شوې الوتکې او د هغو هوایي ډګرونه له سره ترمیم اوبیا ورغول .

دا هغه مهال و چې اسلامي امارت له سختو اقتصادي ستونزو او نړیوالو محدودیتونو سره مخ و خو منصور صاحب په هماغو نامناسبو اقتصادي شرائطو کې لومړی د کابل بین المللي هوایي ډګر او د هغه اړوند تأسیسات ټول له سره ورغول او بیایې د آریانا افغان نړیواله هوایي کرښه د کورنیو او بهرنیو الوتنو لپاره په نړیوال سټنډرډ برابره مجهز ه کړه.

د هغه په تعقیب د کندهار، هرات ، ننګرهار ، مزار شریف او قندوز ولایت هوایي ډګرونه د هرډول ملکي او پوځي الوتنو لپاره اماده او په پرمختللیو وسائلو مجهز کړل.

د اسلامي امارت په نظامي او ملکي برخو کې پر بیلابیلو رغنیزو خدمتونو سربیره د نومورې تر ټولو ستره کارنامه داوه، چې دافغانستان ستره ملي شتمني (هوایي ځواک) او د هغه اړوند الوتکې او ویجاړشوي هوایي میدانونه یې اکثریت ورغول.

دالوتکو او هوایي ډګرونو پر بیارغوني سربیره یې دافغانستان په دننه کې د شپې او ورځې لپاره د داخلي الوتنو سهولت برابر اوله کلونو ځنډ وروسته یې په لومړی ځل په زرګونو افغاني حاجیانوته داریاناافغان هوایي کرښې له لارې حج ته د تللو زمینه مساعده کړه.

افغانستان چې یو مهال یې د سیمې په کچه یو پرمختللی دفاعي هوایي ځواک درلود د روسانو د یرغل او تنظیمي جګړو له کبله تقریبا ټول فلج شوی اوله کاره لویدلی و، تر دې چې ځینې الوتکې پرزه شوې او د اوسپنې په بیه پلورل شوې وې خو جناب منصور صاحب په خپلو نه ستړیو کیدونکو هلوځلو هغه له کاره لویدلې الوتکې بیرته فعالې او د استفادې وړ وګرځولې.

محترم ملا اختر محمد منصور چې د اسلامي امارت د ټولې واکمنۍ پرمهال د هوایي چلند وزیر و د خپل وزارت پرمهال یې دافغانستان د ملکي هوایي چلند وزارت داحیاء او پرمخ بیولو په لاره کې ډیرې هلې ځلې وکړې .

غواړو د مشت نمونه یې خروار په توګه یې دلته مختصر یادښت وکړو.

جناب منصورصاحب دملکي هوایي چلندد ښې رهنمایي اودنړۍ دنورو هیوادونود ترانزیټ پروازونوچې دافغانستان له فضانه به تیریدل په خاطر د(ویست دستګاه) دافغانستان په بین المللي مشهوروهوایي ډګرونو لکه کابل، قندهار، ننګرهار، مزاراوهرات کې ځای پر ځای کړه چې اوس یې هم لیدونکي شاهدان دي، اوهغه مهال یې په میلینونو امریکایي ډالر دبهرنیو الوتکوله تیریدونه دټکس په ډول دافغانستان بو دیجي ته راتلل چې تر اوسه دوام لري د هغه مهال دافغانستان د هوانوردۍ وزارت اوهوایي مدافعې د یوه راپور له مخې د منصور صاحب د وزارت پرمهال خوا و شا ۴۴ بیلابیلې ترانسپورتي الوتکې او جنګي چورلکې چې د جګړو پرمهال زیانمنې شوې او له الوتنې لویدلې وې له سره ترمیم او په ملکي هوایي چلند او هوایي ځواک کې د استفادې وړ وګرځولې چې لنډ تفصیل یې په لاندې ډول دی .

ـ هغه ۴۴ مختلف النوع الوتکې چې د منصور صاحب د وزارت پرمهال له سره ترمیم او رغول شوي عبارت دي له :ترانسپورتي الوتکې:

دری این ۱۲ – څلور این۳۲ – دوه این ۲۶

جنګي الوتکې

اته جيت ميګ۲۱ – دری جيت سو۴۲۰M – پنځه جيت سو۲۲

هليکوپتر:

شپږ می ۸ – اته می۳۵ – پنځه ايل ۳۹

له دې علاوه دملکي ترانسپورت اړوند يوه روسي ساخته ۴۱ ډوله او يوه اين۲۴)) اوداريانا افغان هوای شرکت امريکايي بوينګ الوتکي هم په خپل وخت کی په بهرنيو هيوادونو کي ترميم اود استفادې وړ وګرځيدی.

او دغه رازيي ۵روسي ساخته ترانسپورتي الوتکي په ازادبازار کې خريداري کړې وي .

په دې يوشميرترميم شويو اوخريداري شويوالوتکو سربيره هغه مهال افغانستان نورې هم په لسګونو روغې جنګي ، ترانسپورتي الوتکي او چورلکې درلودې چې د يوه بشپړ هوايي ځواک رول يې درلود او د فعاليت نه بيلګه يې په کندز او ځينو نورو ليرې پرتو سيمو کې دمجاهدينو دمحاصره ځواکونواو مختلفو ليرې پرتومقدموجبهو او جنګي خطونوته دوام داره اکمال او هوايې مرسته بللای شواوهم دهيواد لويو ښارونو او له هيواده بهرته په منظم ډول دمسافر وړونکو الوتکو منظم بهير و ، خو دامريکايانو په يرغل او دهوايي ډګرونو په بمبارولو سره دغه ملي شتمني په يومخيز ډول تباه او له منځه ولاړه .محترم ملااختر محمد منصور داسلامي امارت د واکمنې په مهال د جنرال مالک د غداری له کبله په شمال کې څه باندې شپږ ميا شتي بندي شو خو وروسته دالله تعالی په فضل هغه وخت بيرته ژوندی راخلاص شوچې جنرال مالک د جنرال دوستم په بيرته راځر ګندېدوسره له فاريابه وتښتيده اوله بنديخانو څخه يې بنديانو ته د وتلو زمينه مساعده شوه .

دامريکايانو د يرغل په خلاف وسله وال مقاومت په ۲۰۰۱ م کال د اکتوبر په اوومه نيټه په افغانستان باندې دامريکا تر يرغل وروسته محترم منصور صاحب د هغوی په خلاف مسلح جهاد پيل کړ .

د محترم منصور صاحب په جهادي ژوند کې دغه مرحله د ده لپاره له سختو آزمايښتونو او چيلنجونو ډکه دوره وه .

نوموړي ته د مرحوم امير المؤمنين لخواد اسلامي امارت د رهبري شوری پر عضويت سربيره د قندهار ولايت جهادي مسؤليت هم وسپارل شو.

دا مهال د کندهار ولايت د افغانستان د نورو ولايتونو په څير دامريکايانو خلاف جهاد کې يو تکړه ، او ماهر جهادي مسؤل ته اړتيالرله ؛ ځکه امريکايانو د ټول جنوب لويديځ زون په سطحه جنګي پلانونه له همدې ولايت څخه د مجاهدينو په خلاف طرح کول ، او همدا لامل و چې تر هلمند وروسته د ټول زون په کچه په قندهار ولايت کې زيات شمير امريکايي، کاناډايي او نور بهرني يرغلګر ځای پرځای او تر بګرام وروسته لويه مرکزي اډه يې هم د کندهار ولايت په هوايي ډګر کې فعاله کړه .

خومنصور صاحب دخپل جهادي بصيرت له مخې په کندهار ولايت کې د ټولو موجودو خارجي يرغلګرو پر خلاف داسې جهادي پلانونه طرح کړل چې د هغوی د وخت مشهور پوځي جنرالان او نظامي ماهرين يې له مخنيوي او مقابلې څخه عاجز ول.

منصور صاحب په خپل جهادي ابتکار سره وکړای شول چې دګاونډيوو لايتونو دجهادي مسئولينو په مشوره او مرسته له کندهار څخه خپل جهادي پلانونه د ټول جنوب غرب حوزې په سطحه پلان ګذاري او پر قندهار سربيره د هغه په ګاونډ روزګان ، زابل او هلمند کې صليبي يرغلګرو ته مرګوني ګوزارونه ورکړي.

په کال ۲۰۰۳ م او ۲۰۰۸ م کې د کندهار ولایت د مرکزي محبس د مجاهدینو په لاس دوه ځلې خارق العادة ماتیدل چې له مخې یې په دواړه ځلي تر یونیم زر زیات اسیر مجاهدین د دښمن له اسارت څخه راخلاص کړای شول هم د منصور صاحب د مسؤلیت په مهال تر سره شول.

د اسلامي امارت د نائب په توګه

چې کله په۲۰۰۷ م کال کې داسلامي امارت پخوانی مرستیال الحاج ملا عبیدالله اخند اسیر شونومرحوم عالیقدرامیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصورداسلامي امارت له بل مرستیال محترم ملا برادراخند سره داسلامي امارت ددوهم مرستیال په حیث وټاکه او دا هدایت یې هم ورته وکړ چې کندهار ډیر مهم دی دهغه ولایت مشرتوب به هم نه پریږدي او دواړه دندي به پرمخ وړي

په کال ۲۰۱۰ کې هغه مهال چې داسلامي امارت یو مرستیال الحاج ملاعبید الله اخوند د پاکستاني ځواکونو په اسارت کې شهید او بل مرستیال یې ملاعبدالغني برادر د امریکایي او پاکستاني مشترکو قواو لخوا د پاکستان په کراچي ښار کې اسیر کړای شو امیر المؤ منین ملامحمد عمر (مجاهد) محترم منصور صاحب داسلامي امارت د مرستیال او دامارت د ټولو چارو د عمومي مسؤل په توګه وټاکه .

دا هغه مهال و چې د اوباما لخوا افغانستان ته ۳۰۰۰۰ نوي اضافي ځواکونه را لیږل شوي او په افغانستان کې جهادي مقاومت له سترو ننګونو سره مخ وه .

ځکه د یرغلګرو تر یولک زیات په تر ټولو پرمخ تللیو وسلو مجهز خارجي ځواکونه د ۳۵۰۰۰۰ داخلي پوځیانو ترڅنګ له مجاهدینو سره د هیواد په ګوټ ګوټ کې په جګړه ول

له یوې خوا د نهایت حساسو امنیتي شرائطو له وجې د مقاومت د پوځي رهبري لپاره داسلامي امارت امیر ملامحمد عمر (مجاهد) راڅرګندیدل ناشونی کار ګڼل کیده له بلې خوا په جهادي جبهه کې د پوځي اواداري قیادت تشه هغه څه ول چې دمقاومت پله یې په بشپړه توګه د دښمن په لور درنوله.

په مجاهدینوباندې پرپوځي فشار سربیره د دښمن لخوانور سیاسي او تبلیغاتي فشارونو هم ډیر زیات شوي او د مقاومت په سنګرو کې یې ډیر شمیر جهادي چارواکي په شهادت رسیدلي ول اوګڼ شمیر مشران مسئولین اسیران ول .

په دغسي یو حساس وضعیت کې د مرحوم امیر المؤمنین ملامحمد عمر (مجاهد) لخوا د صلیبي یرغلګرو په وړاندې د مجاهدینودسمبالښت مسؤلیت د محترم منصور صاحب په غاړه ور واچول شواوحتی بل مرستیال یې هم ورته ونه ټاکه. محترم منصور صاحب عملا وکړای شول چې دالله تعالی په نصرت اودرهبري شوری په مرسته د مقاومت په تر ټولو حساسو شیبو کې هغه په داسې ډول رهبري کړي چې مجاهدین په هیڅ ډول د عملي قیادت تشه احساس نه کړي .

هماغه و چې ۲۰۱۰م کال په افغانستان کې د صلیبي ځواکونو لپاره د هغوی په خپل اعتراف تر ټولو خونړی کال او مجاهدینو وکړای شول تر بل هروخت په همدي کال کې ډیر موثر او کاري ګوزارونه پر دښمن ترسره او په ترڅ کې یې خپله د دښمن په اعتراف ۷۷۰ تنه خارجي یرغلګر و وژني.

همدا راز مجاهدينو د منصورصاحب په قيادت کې وکړای شول چې له دښمن نه ډيري پراخي سيمي فتحه او منظمه اسلامي اداره پکې رامنځ ته کړي .

د امير المؤمنين ملامحمدعمر (مجاهد) تر وفات وروسته .

په کال ۲۰۱۳ م داپريل په ۲۳چې کله مرحوم امير المؤمنين وفات شو نو داسلامي امارت د رهبري شوری يو شمير غړيو، جيدوعلماء کرامو ، په تيروڅوارلسو کلنو کې د مرحوم ملا محمدعمر (مجاهد) د ځانګړي قاصداو د نوموړي دائمي ملګروکوم چې د وفات تر وخته له نوموړي سره يوځای اوسيدل ټولو له منصور صاحب سره بيعت وکړ او نوموړی يې د اسلامي امارت د امير په حيث تعين کړ .

دا چې ۲۰۱۳ کال د صليبي اشغالګرو او له هغو سره مقاومت کوونکو مجاهدينو تر منځ د مقابلې او زور آزمويلو وروستی کال و نو د اسلامي امارت د رهبري شورا مهمو قيادي اعضاوو اويوشمير شويوخو علماء کرامو دا پريکړه وکړه چې اوس مهال د امريکاپه مشرۍ د صليبي اشغال د زور ازمويلو ورستی شيبې دي او ۲۰۱۴م برخليک ټاکونکی کال چې اشغال ګر و د خپلو ځواکونو د پرشاتګ لپاره د وروستي زماني جدول په حيث تعين کړی په مخ کې دی نو د جهادي مصلحت او علماء کرامو د موافقې له مخې به دا غوره وي چې د مرحوم اميرالمؤ منين د وفات خبره دي له همدغو محدودوکسانو پرته بل چاته ښکاره نشي .

هماغه و چې دا اساسي راز په ډير خارق العادته ډول د خاص جهادي مصلحت پر اساس د ۲۰۱۵ کال د جولای د ميا شتې تر ۳۰ نيټې پوري پټ وساتل شو .

د اسلامي امارت د منتخب امير په توګه

کله چې د روان ۱۴۳۶ هجري قمري کال د شوال المکرم ميا شتې په ۱۴ نيټه چې د ۲۰۱۵ کال د جولای د ميا شتې له ۳۰ نيټې سره سمون خوري د اسلامي امارت د رهبري شوری له لوري د مرحوم اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله وفات رسما اعلان شو.

منصور صاحب د مجاهدينو د لاښه اطمنان په خاطر د رهبري شوری غړواوعلماء کرامو ته د خپل برخليک او د نوي زعيم د ټاکلوپه اړه اختيار ورکړ او داخبره يې ورته وکړه چې تاسو چې کوم شخص د زعيم په حيث غوره کوئ زه ما پري خوښه او موافقه ده

هماغه وو چې د افغانستان د اسلامي امارت د رهبري شوری اعضاوو ، د مشائخو او مخورو علماء کرامو په ګډون يوې غونډې چې د اهل الحل و العقد له اعتبار څخه برخمن ول په غونډه کې د محترم منصور صاحب له حضور اوموجوديت پرته تر اوږدو بحثونو ، مصلحت سنجولو او مشورو وروسته نوموړی د اسلامي امارت د نوي امير په حيث وټاکه .

د اسلامي امارت د امير په توګه د محترم ملا اختر محمد (منصور) له ټاکل کيدو سره سم د اسلامي امارت د رهبري شورا غړيو ، د اسلامي امارت د ټولو کميسونونو مشرانو د قضاء او محاکمو عمومي مسؤلينو نظامي قومندانانو او د افغانستان د ۳۴ ولايتونو جهادي مسؤلينو ، د نظامي کميسيونونو مشرانو ، د هيواد علمي،ملي ، جهادي ، سياسي او فرهنګي شخصيتونو او د اسلامي امارت ټولو وسله والو ځواکونو او ملکي چارواکو ټولو په يوه غږ د اسلامي امارت له نوي امير سره بيعت اعلان کړ . دغو ټولو پوځي

او ملکي لوريو او د هيواد ملي شخصيتونو خپل بيعتونه په صوتي او کتابتي بڼه د افغانستان د اسلامي امارت نشراتي څانګي ته وليږل چې وروسته د هغوی لخوا د اسلامي امارت په مرکزي ويب پاڼې الاماره ويب سايټ کې هم نشر شول.

دنوي امير په توګه تقرر يې د شريعت له نظره

علماء کرام او اسلامي سياست پوهان په اسلام کې د زعيم دانتخاب لپاره تر ټولو سمه او غوره لاره د شوری يا اهل الحل والعقد لخوا څخه ټاکنه بولي د اهل الحل والعقد اطلاق په هغه ټولي کيږي چې په علم ، تجربې او هوښيارۍ لرونکو اشخاصو باندې مشتمل وي او معمولا د يوې شوری اطلاق ورباندې کيدلی شي.

د خلفاء راشدينو د ټاکل کيدو له بيلابيلو طريقو څخه په عمومي استنباط د شوری له لارې د زعيم ټاکلوته دری مرحلې معلومې شوي دي،چې لومړۍ دترشيح مرحله ، دوهمه د انتخاب او دريمه د بيعت مرحله ده.

ترشيح يا د مشرۍ لپاره نوماند کيدل به خپله د هغه کس لخوا څخه نه وي څوک چې زعيم ټاکل کيږي ځکه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

إنا والله لا نولي هذا العمل أحدا سألة , أو أحدا حرص عليه)متفق عليه) (اخرجه البخاری (٧١٤٩) ومسلم (١٧٣٣)

ژباړه : په والله چې موږ به هغه څوک په دې(د مشرۍ په کار) ونه ټاکو کوم چې خپله يې غواړي او يا يې حرص لري.

نو ترشيح به د بل چا لخوا يا د يوه تن وي لکه عمر فاروق رضی الله عنه چې د ابوبکر صديق رضی الله عنه لاس ونيو او د زعامت لپاره يې وړاندې کړ او بيا صحابه کرامو د امام په حيث انتخاب کړ او يا به د ډيرو کسانو وي لکه عمر فاروق رضی الله عنه چې له شهادت وړاندې څو صحابه د خلافت لپاره ونومول د هغو له منځه حضرت عثمان رضی الله عنه وټاکل شو.

ملا اختر محمد منصور صاحب هيڅکله ځان په خپله د مشرۍ لپاره نه دی نوماند کړی، بلکې نومورۍ په لومړنۍ غونډه کې هم د مشرۍ لپاره د يوازيني کانديد په حيث د شورا لخوا نوماند شو او په دوهمه غونډه کې يې هم صراحتا شوری ته وويل چې زه د مشرۍ غوښتونکی نه يم بلکې د يوه مأمور په حيث خدمت مې زړه غواړي ، خو شوری نومورۍ د زعامت د يوازيني وړ کس په حيث نوماند کړ ، وروسته له اوږدو بحثونو نومورۍ د همدې شوری لخوا چې په علماء کرامو ،شيوخو او د اسلامي امارت د رهبري شوری په غړو مشتمله ده چې ټول د علم او جهادي تجربې خاوندان دي لخوا د زعيم په حيث انتخاب او ورپسې لومړۍ د شوری غړو ورسره بيعت وکړ او وروسته نورو مسئولينواو عامو مجاهدينو او مؤمنينو ورسره د بيعت لړۍ پيل کړه.

په دې توګه ويلی شو چې د نومورۍ انتخاب په بشپړه شرعي طريقه شوی دی چې له همدې امله د هيواد له ساره او اوږده څخه په په نورو لکونو انسانانو سرپيره سلګونو د قرآن او احاديثو مشائخو د نومورۍ زعامت قبول کړ ، شرعي يې وباله او بيعتونه يې ورسره وکړل.

قيادي شخصيت يې

د افغانستان د اسلامي امارت نوی زعيم اميرالمؤمنين ملا اختر محمد (منصور) د اسلامي امارت په تأسيسي غړيو کې يو خورا مدبر، مؤثر او مسلط شخصيت ګڼل کيږي.

نومورۍ په موهوبوي شکل د قيادت او رهبري له ځانګړو مشخصاتو څخه برخمن دی .

تقوی ، اخلاص ، جهادي بصيرت ، سياسي درايت او د کارونو په عملي کولو کې اداري نظم يې کاري مشخصات دي .

محترم ملا اختر محمد منصور صاحب د اسلامي امارت د اړونده جهادي فعاليتونو په تعقيب او تنفيذ کې د خپل جهادي رهنما مرحوم ملامحمد عمر (مجاهد) په نقش قدم روان دی ، د جهادي اهدافو تحقق، له خارجي اشغال څخه د هيواد خپلواکي ، او په هغه کې د شرعي نظام ټينګښت يې د جهاد او مبارزې اساسي هدف دی، د وامرهم شوری بينهم په اساس په کارونو کې د ملګرو سالمې مشورې په غور سره اوري، اهل کار کسانوته مسؤليت سپاري او تر مسؤليت سپارلو وروسته ورباندې پوره اعتماد کوي ،مسؤلو کسانوته تل پر ولس باندې د ترحم او خواخوږي سپارښتنه کوي .

پردې خبره ډير تر کيز لري ((چې اسلامي امارت د ټولو افغانانو ګډ کورده نو همداسي بايد ټول خپل ځان پکي وويني))

فکري او مذهبي ليد لوری يې

محترم ملا اختر محمد منصور په مذهبي لحاظ د اهل سنت والجماعت پلوی او د امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله د مذهب مقلد دی د وخت او زمان د سياسي جريانا تو په نزاکت ښه بلددی.

له نوموړي سره د مخامخ کيدو پرمهال سړی د ده سنجيده ګي ، وقار او متانت ښه درک کولای شي ، سادګي او بې تکلفي يې د ژوند ځانګړې مشخصه ده .

د رسول اکرم صلی الله عليه وسلم او خلفاء راشدينو د سيرت له مطالعې سره خاصه دلچسپي لري ، له مجاهدينو سره د مخامخ کيدو په وخت کې له هغوي څخه د جهادي سنګرونو د پوځي پيښو او جريانا تو اوريدو ته ليوالتيا لري.

له خپلو ټولو جهادي او اداري بوختياووسره سره رسنۍ په ډير دقت تعقيبوي ، جهادي ليکوالانو او د امارت فرهنګي اونشراتي کارکوونکوته د هغوي په نشراتي فعاليتونو کې خاصې مشوري او ځانګړې توصيې ورکوي .

ورځنی بوختيا او د ژوند ځينې خصوصي مشخصات يې

محترم منصور صاحب خپل ورځنی ژوند د قران کريم په تلاوت پيلوي ، له جهادي جبهاتو او نظامي مسؤلينو سره په دائمي تماس کې وي ، پر دښمن باندې پوځي پلان ګذاري شخصا تر خپل نظر تيروي او جهادي چارواکو ته د ولسي وګړو د ځان او مال د خوندیتوب او له هغوی سره په نيک برخورد ډير تأکيد کوي.

نوموړی د يوه پوځي مسلط قومندان په توګه له خپلو جهادي ملګرو ، د سنګر له مجاهدينو او عامو ولسي وګړو سره له درناوي او خواخوږي ډک چلند کوي ، په مجلس کې د علماوو، استاذانو او مشرانو د خبرو او شخصيت خاص احترام کوي ، او د شهيدانو د کورنيو او د هغوی د يتيمانو پالنې ته ځانګړې توجه لري ،په سياسي امورو کې له ډير احتياط نه کار اخلي او په اړه يې داهل رايه ملګرو نظرونه اخلي .

په توپک باندي له نښې ويشتلو سره خاصه مينه لري ، د جهادي تمريناتو عملي کول د وخت تر ټولو مناسب رياضت(سپورت) ګڼي .

په خپله ليږ خبرې کوي خو له نورو ډيرې اوري ، پاکې او پراخې جامې اغوندي ، په خوراک ، پوښاک او دژوند په نورو اړتياوو کې له بذر او اصراف کولو څخه کرکه کوي.

د ژوند اساسي مشغله يې د جهادي چارو تنظيم او د هغوی جدي تعقيب دی ، په همدغه تنظيم او تعقيب کې ورځ ماښام ته رسوي .

کابل مېشتي رهبران بيا څه کوي ؟

محمد جمال خطيب

عربي متل دی وايي : «اُكلتُ يَوْمَ اُكِلَ الثَّوْرُ الأَبْيَضُ» کله يې چې سپين غويي وخوړ، زه هماغه ورځ وخوړل شوم. وايي يوه ځنګل کې څو غوايان وو. زمري يوه ته راغی، چې دا سپين غويي ډېر موړ او تاسې سره ځان هم نه ګډوي، کبرجن دی. رنګ يې هم چندان ښه رنګ نه دی. دا به وخورم، له غمه به يې خلاص شوو. په همدې بهانو يې يو يو خوړ. آخرني غوايي دا وويل، چې: «اُكِلتُ يَوْمَ اُكِلَ الثَّوْرُ الأَبْيَضُ».

خبره مې دې پورې کوله چې کابل مېشتو رهبرانو «جهادي شوری» تاسيس کړه، موخه يې دا څرګنده وله چې ګوندې د هېواد مهمو قضايا و کې به خپل موقف رغنده او يو ساتو. ضمناً يې يوه خبره ډېره په شد ومد کوله، چې دوئ به هيڅ پوځي کار کې لاس نه وهي.

د دوئ دا کار دوه اړخه لري، يو دا چې دوئ بيا د کومې بدنامې سياسي او تاريخي قربانی لپاره چمتو کيږي، دوئ د امريکا د واک په دوران کې دومره تاريخي ملامتيو ته وغورځول شول، چې د (شاه شجاع) کارنامې يې له خلکو هېرې کړي.

تاسو وګورئ !

دا خواران يې څو وارد کرزي پښو ته حلال کړل. د کرزي د پت په خاطر يې دا ګټيال(!) رهبران داسې بې پته کړل، چې راتلونکي نسل ته به د خپل ځان د ښوولو جرئت هم ونه شي کړای، کرزي په ډېر شد ومد د امريکا د ستراتيژيک تړون مخالفت ښکاراوه، کوښښ يې کاوه ،چې ځان خپل هېواد او خپل ولس ته تر نورو ټولو ژمن وښايي، امريکا هم دا ځواني ورسره وکړه، چې د ځان د سپينولو لار وربرېږدي، ګوندې کرزی د افغانستان د تاريخ هغه انسان ثبت شو ، چې د افغانانو د تاريخ ،کلتور او دود بدلولو کوښښ يې وکړ.

کوښښ يې وکړ ،چې افغانان له خپل هويته ليرې پرېباسي او هيڅ ځان ته متوجه نه شي، کوښښ يې وکړ، چې افغانستان د غټو زبرځواکو په منګولو کې داسې وساتي ،لکه د منځنی اسيا خام هېواد ونه د افغانستان د تاريخ هغه باب شو ، چې تر قيامته د بند بدو چانس نه لري.

همدغه سړی چې نړېوالو ته په لوړه سويه او لوړه بيه وفادار پاتې شو ،هغوی د وفا په خاطر داسې چانسونه ورکول، چې تر قيامته به تر ې د ده پلويان ګټه اخلي.

مورچل ۱۸

موږ وليدل چې په سطحي ذهنيت کې د کرزي د محبوبيت کچه تر کومې لوړه شوه. کرزي چې کله د ټرون د نه لاسليکولو ناندرې وهلې، په خپل تاريخ يې د خاورو اړولو کوښښ کاوه او ځينو ذهنونو کې يې ځان سپين هم کړ، خو تاريخ به يې دا سې سپين پرېږدي.

د کرزي د پټ پر ځای کولو لپاره له منحرفو جهادي رهبرانو کار واخيستل شو. کېدای شي دا منحرف رهبران الله جل جلاله د خپل تېر او ورپسې خيانت په انتقام کې د دې شرم لپاره انتخاب کړي وي. د غرب له برېښو زيات دا پنډتان ډېر ښکته پورته وارېدل، چې دا ټرون بايد لاسليک شي. حضرت مجددي خو د نه لاسليک صورت کې د «هجرت» ګوابښ هم وکړ او «في سبيل امريکا مهاجر» هم شو.

دې پنډتانو دا دليل وايه، چې ګاونډيان به مو وشپېلوي، دا ټرون ډېر ضرور دی، تاريخونه ليکي ،چې(شاه شجاع) هم د انګرېزانو د دوستۍ لپاره همدا دليل وايه، که موږ قوي دوست ونه لرو ،نو ګاونډيان به مو ژوندي وخوري، ته اوس وايه چې دا خلک د کرزي لپاره په کومه ژوره کې ذبح شول؟

دوی چې اوس بيا جهادي شوری تاسيس کړه ،نو بيا لکه چې کومه تاريخي بدنامه راروانه ده او دا دی پر يوه دسترخوان يې سره کښينول او د شرم کوم نوی څپرکی پرې پرانيزي.

دوهم اړخ يې دا دی ،چې دوی ځان په دې رژيم کې ښه تول کړ، چې څوک يې د بوسو په تول هم نه خوښوي. ښه مبصر هغه څوک دی ،چې دوی سپکوي، ښه مدير هغه څوک دی، چې دا بې سوادان له چوکيو ليرې کوي. ښه مدني فعال هغه دی، چې د دوی جنايي محاکمه غواړي.

اشرف غني چې پر ګدۍ کېناست ،ډېر مهم کار يې وکړ، دوی ته په کې خپله اصله څېره ښکاره شوه. هغه امنيت کمونستانو ته وسپاره، د کابل اووه ويشت واړه حوزې يې پرچميانو ته وسپارلې، دليل يې دا ووايه ،چې دوی مسلکي خلک دي، مجاهدينو(!) ډېر خدمت کړی، دوی يې ستايي، خو مسلکي نه دي.

يو خو يې په خپله وفا شکمن کړل، بله يې لا دا چې په بې سوادۍ يې هم تورن کړل، اصل خبره دا نه ده ،چې ګوندې ربښتيا هم د مسلکيتوب خبره مطرح ده، بلکې اصل خبره دا ده، چې اشرف غني سوچه کفر غواړي او هغه د تاريخ د پانو پيکه مسلماني يې هم نه خوښيږي.

دا اوس چې په دوی کې هيڅ مسلماني نه ده پاتې، بيا يې هم خوښ نه دي او له صحنې يې باسي، دوی اوس ځان ته متوجه شول ،چې ګوندې موږ تجريد کيږو ،موږ د انزوا پر لور ببول کيږو ،نو موږ به د دې شوری له لارې ځان مطرح وښودلای شو ،سمه ده، دوی چې هره خواري کوي ودې کړي ،مګر نه دې هېروي ،چې کله تاسې دا مسلمانان د امريکا منګولو ته واچول، په هماغه ورځ ستاسې زوال پيل شوی.

هغه مسلمانان خو په يو افتخار د دې کفر مقابله کې له منځه لاړل، مګر تاسې به په کوم مرګ ومرئ ! دا خدای ج پرې پوهيږي، تاسې هماغه ورځ وژل شوي ياست، چې ستاسې په مرسته د امريکا لومړي توغندي د کوم مسلمان روح واخيست، دا شوراګانې مو له خپل حتمي مسير څخه نه شي خلاصولای ! !

د طالبانو نوی امیر تاکنه اعتراضونه او ځوابونه

پوهنمل زاهدي احمدزی

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد الله وحده والصلاة والسلام على من لانبی بعده محمد و علی آله و اصحابه و من اهتدی بهديه الی يوم الدين و بعد:

کله چې د ۱۴۳۷ هجری قمري کال د شوال په ۱۳مه د ۱۳۹۴ هجري شمسي کال د زمري میاشتي له ۷ مې او د ۲۰۱۵ کال د جولائی د میاشتي له ۲۸ مې نیټي سره سم رسنیو دا ویرجن خبر خپور کړ، چې د افغانستان د اسلامي امارت امیر المؤمنین عدو الکفرو الکافرین ملا محمد عمر مجاهد رحمة الله علیه د ۲۰۱۳ زیږدیز کال د اپریل په ۲۳ مه نیټه په افغانستان کې دننه د ورپیښې شوي ناروغۍ له امله له دنیا رحلت کړی دی او د اسلامي امارت د عقد او حل شوری د افغانستان نوماند اتل مجاهد او د امیرالمومنین نائب الحاج مولوی اختر محمد منصور (حفظه الله (د اسلامی امارت نوی امیرالمومنین ټاکلی دی او بیعت یې ورسره کړی دی ،او نورو ته یې هم دبیعت کولو امر کړی دی، په سبایې نړیوالو رسنیو دا خبر خپور کړ، چې د اسلامي امارت ځینې اړوندو کسانو د نوې امیر په ټاکلو نیوکې کړي دي او بیعت یې ورسره نه دی کړی او هغوئ د خپل مخالفت د توجیه کولو له پاره دغه لاندې دلیلونه ویلې دي:

۱ -اسلامي امارت د امیرالمؤمنین ملا محمد عمر (رحمه الله) د کورنۍ حق دی، باید د هغه زوی یا ورور وټاکل شي.

۲ -د نوې امیر په ټاکلو کې بیړه کړي شوې ده، باید لویه شوری جوړه کړای شي او امیر وټاکلی شي.

۳ -له هیواد څخه بهر بیعت کول.

۴ -د امیر المؤمنین د وفات نیټه پټ ساتل.

دغه څلور واړه داسې نیوکې او اعتراضونه دي چې یوه یې هم له شریعت سره ډډه نه لګوي ،چې په ډیر لنډیز سره یې دلته مشروع ځوابونه ورانديې کولی شي څو مجاهدین او هر څوک پدې اړه د صحابه کرامو

رضوان الله عنهم اجمعين تعامل او د اسلام د مقدس دين د سياسي نظام اصول او له نورو جاهلي نظامونو څخه يې تو پير او غوره والی ورته معلوم شي !

لومړی اعتراض ځواب: لومړی بايد پردې خبره باندې پوه شو ،چې د اسلام د دين سياسي نظام ارثي نظام نه دی، چې د ملوکيت په څېر له پاچا څخه وروسته به د هغه زوی پاچا وی ،که زوی نه وی، د هغه مېرمن به پاچاهی کوي او يا به يې لور پاچاهي کوي، بلکې د اسلام سياسی نظام چې اصول يې د الله تعالی او د الله تعالی د رسول خاتم النبين محمد صلی الله عليه وسلم له پلوه کيښودل شوي دي. هغه څوک واکمن کېدلی شي چې شرعي وړتيا ولري او هغه يوولس مواصفات پکې موجود وي، چې د اسلامي امت فقهاوو د خلافت د شرطونو په نوم نومولې دي، چې يو له هغو څخه دا دی چې په خپله به يې نه غواړي او نه به يې حريص وي. ان تردې چې په اسلامي سياسي نظام کې د يو کوچني منصب غوښتل هم ناروا دي او په دې اړه د عبدالرحمن بن سمره رضی الله عنه او ابوذر غفاری رضی الله عنه په هکله مروی حديثونه په بخاری او مسلم کې نقل کړی شوی دي.

او دا هماغه عبدالرحمن بن سمره وو ، چې په ۳۶ هجری کې يې کابل فتح کړ او پنځه کلونه يې حکومت پری وکړ، قريش او د نبی صلی الله عليه وسلم له نيږدي خپلوانو څخه وو. او هغه ته فرمايي چې. لا تسئل الامارة امارت مه غواړه.

نو کله چې د اسلام په سياسي نظام کې ځان ته د امارت غوښتل ناروا دي، د کورنۍ د غړو له پاره خو بيخي ناروا دي ،که څه هم دهغه اولاد شرعي او سياسي وړتيا هم ولري، د خلافت او امارت شرطونه پکې موجود هم وي، پدې اړه مونږ مسلمانانو ته د اسلام د دوهم خليفه امير المؤمنين عمر بن خطاب رضی الله تعالی عنه کړنه ستر او قاطع دليل، کړنچاره او تګلاره ده او هغه داسې چې کله په ۲۳ هجری کې د ذوالحجی مياشتې په ۲۴ مه د چارشنبې په ورځ د سهار په لمانځه کې په نبوی جومات کې د امامت ورکولو په دوران کې په لومړی رکعت کې ايرانی مجوسی فيروز کافر په پرله پسې توګه د خنجر شپږ ګوزارونه پرې وکړل او بيا د ۲۴ هجری کال د محرم په لومړی ورځې شهيد کړی شو. د ناروغۍ په لومړی ورځ يې د عقد اوحل شپږ کسيزه شوری جوړه کړه، چې دغه لاندې جليل القدره قدسيه نفوس وو :عثمان بن عفان، علی بن ابی طالب، سعد بن وقاص، زبير بن العوام، طلحه بن عبيدالله او عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنهم اجمعين. او دا وصيت يې ورته وکړ، چې په درې ورځو کې دننه به تاسو له خپل منځ څخه د خليفه په توګه يو کس هرومرو ټاکئ !چې څلورمې ورځې ته وانه وړي. دعقد وحل دغې منتخبې جرګې ورته وويل: ای امير المؤمنينه ! خپل زوی عبدالله بن عمر رضی الله عنه د خليفه په توګه وټاکئ ! هغه د خلافت وړتيا لري او مونږ ټول پرې خوښ او رضامند يو. امير المؤمنين عمر رضی الله عنه ورته په غصه شو او ورته ويې ويل (خلافت ميراثی نظام ندی) امامت و سياست ۲۴ مخ امام قيتبه دينوری متوفی ۲۷۶ هجری، الاحکام

السلطانیه ج۱ مخ ۵ - امام ماوردی، فتوح البلدان ۵۷۱ - امام بلاذری ۲۷۲ ازالة الخفاء عن خلافة الخلفاء ج۱ مخ ۵ شاه ولی الله محدث دهلوی او .....

او پردی باندې د صحابه کرامو اجماع شوې ده ،چې د اسلام سیاسي نظام میراثي نه دی، نو د افغانستان د حل او عقد شورای په دې اړه په حق پریکړه کړي وه.

د دویم اعتراض ځواب: د افغانستان د اسلامي امارت د حل او عقد شورا له الحاج مولوی اختر محمد منصور سره په بیعت کولو کی بیړه کړي ده، باید لومړی د شهید امیر المؤمنین ملا محمد عمر فاتحه اخیستل شوی وای، بیا عمومي شوری جوړه کړی شوی وای، چې نوی امیر المؤمنین یې ټاکلی شوی وای. د معترضینو دغه اعتراض هم سم نه دی او د صحابه کرامو له تعامل څخه خلاف دی او دواړه خبرې یې د اسلام د لومړي خلیفه، ابوبکر صدیق رضی الله عنه په بیعت سره ځوابولی شی، کله چې خاتم الانبیاء والمرسلین رحمة العالیمن، شفیع المذنبین محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم په ۱۱ هجری کال د ربیع الاول په ۱۲ مه د دوشنبی په ورځ د ۶۳۳ کال د جون د میاشتې له اتمې نیټې سره سم له فاني نړۍ څخه ویرجن رحلت وفرمایه، او ګرده مدینة النبی د نبوی بیلتون په ویر کې ډوبه شوه. په دغه شدید حالت کې هم د نبوی مدرسي روزلیو شاګردانو خپل حواس قابو کړل او له نبوي مدفن څخه دمخه د خلافت بیعت او د خلیفه ټاکل یې اړین وګڼل، د نبوی ص جومات شاته په سقیفه بنو ساعده نومې باغیچه کې، څو تنه مهاجرین او انصار صحابه مشران سره غونډ شول او لومړی پنځو کسانو له ابوبکر صدیق رض سره بیعت وکړ او د خلیفه په توګه یې وټاکه، چې نومونه یې دادي:

۱ -عمر بن الخطاب ۲- ابوعبیده بن الجراح ۳- سعید بن حضیر ۴- بشیر بن سعید ۵- سالم مولی ابی حذیفه رضی الله عنهم اجمعین. او بیا له هغوئ څخه وروسته په سقیفه کې نورو موجودو صحابه کرامو هم بیعت ورسره وکړ. او د خلیفه له ټاکل کیدو څخه وروسته د نبی کریم صلی الله علیه جنازه وکړای شوه او دفن کړی شوی، صلی الله علیه وسلم اللهم ارزقنا اتباعه و اقتدائه وشفاعته/ په دې اساس د صحابه کرامو د دغه تعامل په دلیل د بیعت او د امیرد ټاکلو له پاره نه شورا اړینه ده او نه د تعزیت اجتماعي دعاء چې یو دود او رسم دی، په سقیفه بنو ساعده کې نه شورا کړی شوې وه او د خلیفه ټاکل یې له نبوی ص جنازې او مدفن څخه دمخه اړین ګڼلې دي. سیرة ابن هشام ۴ ټوک ۳۰۲ -تر ۳۲۲ مخ پوری په ډیر لنډیز، ماثر الانافة فی معالم الخلاقه ج۱ مخ ۴۵ مصنف قلشقندی متوفی ۸۲۰ هـ احکام سلطانیه ۵ مخ ماوردی او.....

دریم د هیواد نه بهر بیعت: دریم اعتراض یې دادی ،چې له الحاج مولوی منصور حفظه الله سره له هیواد څخه بهر بیعت شوی دی، دغه اعتراض هم واهي بې اساسه او له اسلام څخه مخالف دی. ځکه چې ټول اسلامي امت او ګرد اسلامي هیوادونه ایکی یودي. اوسنی پولي او بریدونه کفري استعمار د اسلامي هیوادونو تر منځ ترسیم کړي دي، چې په اسلامي جغرافیه کې هیڅ ارزښت نه لري. له همدې وجه له امام حسن رضی الله عنه سره د عراق په کوفه کې بیعت شوی وو، پداسې حال کې چې امام حسن رضی الله عنه د

مدیني منوري یعنې د حجاز د هیواد وو ، په هغه وخت کې هیڅ یو صحابي رض او تابعي رح دغه واهي اعتراض پرې نه وکړی او خلافت یې صحیح ګڼلی وو.

العواصم من القواصم ص ۱۹۹- ۲۰۳، قاضی ابوبکر بن العربی متوفی ۵۴۳ هجری قمری- تاریخ الخلفاء ص ۱۳۵ علامه سیوطی متوفی ۹۱۱ هجری، الامامة و السیاسة ص ۱۷۴، څلورم د امیرالمؤمنین وفات پټ ساتل: د اعتراض کوونکیو دغه اعتراض هم غیر شرعی او جذباتي دی او د اسلامي امارت د حل و عقد شورا اقدام پرځای کړی دی او په قران کریم کې یې ثبوت موجود دی او هغه دا چې کله چې په ۹۴۵ څلویښت قبل المیلاد مسیح کی الله تعالی سلیمان علیه السلام وفات کړ ،نو دهغه وفات یې یوکال له پیریانو او انسانانو څخه پټ ساتلی وو لکه چې الله تعالی په قران کریم کې په دې اړه فرمایلی دی:

فلما قضینا علیه الموت مادلهم علی موته الا دابة الارض تاکل منساته (ج) فلما خرّتبینت الجن ان لو کانو یعلمون الغیب مالبثوا فی العذاب المهین. د سبا سورة ۱۴- ایة ۲۲مه سپاره ، ۳۴ سورة ژباړه: (نو کله چې حکم وکړ مونږ، پر سلیمان د موت او دی مړ ولاړوو (تکیه پر همسا باندې یو کال) (نو هیڅا خبر کړي نه وو ، دغه پیریان په مرګ د دغه سلیمان ،مګر چنجي د ځمکی (وینو) چې ویې خوړه همسا د ده. نو کله چې ولوید سلیمان پرځمکه، نو معلوم ش،و پیریانو ته ،دغه که چیرې وی ،چې پوهیدی په علم د غیب ،نو نه به یې تیراوو سلامت یو کال په تکلیف مشقت سپکوونکې. تفسیر: د اسلامي امت تفسیر پوهانو د نبوي ص احادیثو په رڼا کې د دغه مبارک آیة په تفسیر کې ویلې دي: د سلیمان علیه السلام پلار داؤد علیه السلام د بیت المقدس جوړولو تعمیر پیل کړی وو کله چې وفات کیده ،نو سلیمان علیه السلام ته یې وصیت وکړ ، چې د بیت المقدس تعمیر بشپړ کړي؟ سلیمان علیه السلام پر پیریانو باندې د بیت المقدس په جوړولو لګیاوو ، چې د ملک الموت په ذریعه خبر ورکړای شو ، چې د مرګ نېټه یې رانږدې شوې ده ، نو پر پیریانو یې ځان له پاره د ښیښي داسې خونه)کوټه) جوړه کړه ، چې دهغې منځنی ساحه له بهر څخه له ورایه ښکاریده ، سلیمان ورپکې د ننه شو او په همسا یې تکیه وکړه او الله تعالی ته یې سوال وکړ ، چې پیریان د ده له وفات څخه تر هغه پورې ناخبره وساته ، چې د بیت المقدس تعمیر بشپړ کړي.

الله تعالی د سلیمان علیه السلام سوال قبول کړ او د سلیمان علیه السلام وفات یې یو کال له پیریانو او انسانانو څخه پټ وساته او کله چې د بیت المقدس تعمیر بشپړ شوو ، الله تعالی د سلیمان علیه السلام د وفات راز افشاء کړ. وګوره تفسیر ابن کیثرج ۳ ص ۲۵۰ تر ۲۵۱ پورې، حافظ ابن کثیر متوفی ۷۷۴ هجری تفسیر قرطبی ج ۷ ص ۱۷۸ ، امام قرطبی متوفی ۲۷۱هجری، کابلی تفسیر ۲ ټوک پنښتو ص ۷۲۴ - ۷۲۵، تفسیر نسفی مدارک ج ۲ ص ۲۲ ، امام عبدالله نسفی م ۷۱۰ هجري تفسیر معارف القرآن ۷ ټوک ۲۷۳ - ۲۷۲ پوری اردو ، مولانا مفتی محمد شفیع دغه راز د خاص مصلحت په وجه نبی کریم صلی الله علیه وسلم کله چې

په ۸ هجری کال چی له ۲۳۰ میلادي سر سم د مکي مکرمې د فتحه کولو پریکړه وکړه، نو له عامو خلکو څخه یې دغه راز پټ وساته او په رمضان کې یې پر مکه فاتحانه یرغل وکړ، نو ددغو شرعي دلیلونو په رڼا کې د اسلامي امارت واکمنې شوری چې د جهادي حکمت عملي پر اساس چې د امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد وفات کیدل پټ کړی وو ،له شریعت سره سم ګام یې اوچت کړی دې او دغه حسن تدبیر یې د ستاینې وړ دی، ځکه چې دغه نو سنت یې د جهادو ،اسلامي امارت او هیواد د مصالح علیا په خاطر کړي دي.

پنځم قومی تعصب ته هڅونه: د افغانستان د اسلامي امارت د امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله د وفات د خبر له خپریدو څخه وروسته اوله نوي امیر المؤمنین الحاج مولوی اختر محمد منصور سره له بیعت کولو سره سم استعماري ډنډورچیانو د امریکایي تور استعمار په هدایت په خپلو رسنیو کې ولیکل: د افغانستان د اسلامي امارت پخوانی امیر په قوم هوتک پښتون وو او نوی امیر المومنین په قوم اسحاق زی پښتون دی او د دې امکان شته، چې د طالبانو ترمنځ قومي اختلاف او جنګونه پیل شي.

د دې خبر له خپریدو څخه وروسته په سبا یې پنټاګون وحشي اسلام دښمنه شین ستر ګې شیطان جنرال کیمبل او نورو خوښي څرګنده کړه او ویې ویل: د طالب جنګیالیو ترمنځ د قومي جنګ په رامنځته کیدو سره به د طالبانو ستراتیژي STRAGOLE کمزوری شي او د خپل منځي قومي جنګ په پایله کې به د طالبانو اسلامی تحریک پای ته ورسولی شي. مګر امریکایی صلیبي او یهودي طاغوتیان له دې څخه عارفانه تجاهل کوي، چې د افغانستان د اسلامي امارت ګرد منسوبین او عام ولس مؤمنان او د قرآن او سنت لارویان دي او د اسلامي سیاسي نظام پر الف و با پوه دي، چې سرچینه یې قران کریم او نبوی حدیث دي، په قرانکریم او نبوی احادیثو کې د قوم پالنې مفکوره غندلي شوې ده، بویګنه او جاهلی نظریه ګنلې شوې ده او هر مسلمان ته امر کړی شوی دی چې له داسې قوم پالنې څخه په ټینګه ځان وساتي چې ګنا ورپکې وي ،لکه چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلې دي

عن جبیر بن مطعم ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: لیس منا من دعا الی عصبیة ولیس منا من قاتل عصبیة و لیس منا من مات علی عصبیة.

ژباړه: له جبیر بن مطعم رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلې دي: هغه څوک له مونږ څخه نه دی، چې قوم پالنې ته بلنه ورکوي. او هغه څوک له مونږ څخه نه دی ،چې د قوم پالنې په نوم له یو بل سره جنګیږي، او هغه څوک له مونږ څخه نه دی، چې د نشنلیزم په نظریه مړ شي. دا حدیث ابو داود روایت کړی دی.مشکاة ۲ ټوک مخ ۵۰۵.

په دغه نبوي ص حدیث کې نبی کریم صلی الله علیه وسلم هغه څوک له اسلام څخه خارج ګنلې دي چې په ناحقه قوم پالنه کوي، په اسلام کې تقوا ته ارزښت ورکړای شوی دی او نبی کریم صلی الله علیه وسلم د اسلامي سیاسی نظام د مشرتابه له پاره وړتیا دیانت اسلامي سیاسي پوهه او تقوی ته ارزښت ورکړی دی، نه قومیت د نسب او حسب لوړوالې ته، لکه چې فرمایلې یې دي:

وعن انس ان رسول الله صلى الله وسلم قال: اسمعو و اطيعو و ان استعمل عليكم عبد حبشى كان راسه زبيبة. رواه البخارى.

ژباړه: له انس رضى الله عنه څخه روايت دى ،چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلې دي: د خپل امير امر ومنئ او اطاعت يې وكړئ !كه څه هم پرتاسې باندې داسې حبشي غلام د امير په توګه مقرر كړى شي، چې سر يې د مويز (انګور) په څير كوچنى وي. دا حديث صحيح البخارى روايت كړى دى.

په پاى كې د اسلامي امارت منسوبينو ، مجاهدينو ، افغان ولس او هر مسلمان ته زما داوړانديز دى چې د اسلامى امارت له امير المؤمنين الحاج مولوى اختر محمد منصور حفظه الله سره بيعت وكړي ځكه چې نوموړى معروف او پيژندل شوى عالم، مجاهد او متقى شخصيت دى ،د امارت او قيادت وړتيا لرى. د افغانستان ګرد مجاهدين او علماء يې پر امارت متفق دي او په مجموع كې بلانزاع امير دى، مخالفت كول يې شرعا ناروا دى او بل دا چې پخواني امير المومنين ملا محمد عمر رحمه الله په خپل ژوند كې خپل نائب يعنې ځاى ناستى او وليعهد ټاكلى دى او دوه كلونه يې د هغه په ژوند كې په بشپړ تدبر، فراست او ځيركتيا سره د امارت جهادي او اداري امور تر سره كړي دي او هغه به خپل ژوند كې ورځخه خوښ وو. نو هر هغه څوك چې د نوې امير له بيعت څخه سرغړونه كوي په حقيقت كې د امير المومنين ملا محمد عمر له امر او انتخاب څخه سرغړونه كوي او دهغه روح ته صدمه او خفګان رسوي او له دې څخه هم سخت هغه نبوى ص وعيد دى ،چې څوك له ټولنيز وحدت څخه د امارت په موضوع كې ځان بيلوي او فرمايلې يې دي:

عن عرفجة قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: انه سيكون هنات و هنات فمن اراد ان يفرق امر هذه الامة وهى جميع فاضربوه بالسيف كائنا من كان رواه مسلم كتاب الامارة

ژباړه: له عرفجه رضى الله عنه څخه روايت دى چې ويلې يې دي: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه واوريدل چې ويې ويل: ژر دى چې ډول ډول فتنې به ظهور وكړي. نو كه چا د دې امت په اختلاف كې د رامنځته كولو اراده وكړه، په داسې حال كې چې امت سره متفق وي نو اختلاف اچوونكى په توره ووهئ هر څوك چې وي.

او د بيعت د وجوب په هكله يې ويلې دي.

عن عبد الله بن عمر قال :سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول من خلع يدا من طاعة لقى الله يوم القيامة و لاحجة له و من مات و ليس فى عنقه بيعة مات ميتة جاهلية. رواه مسلم ۳ ټوك كتاب الامارة

ژباړه: له عبد الله بن عمر رضى الله عنها څخه روايت دى: چې ويلې يې دي: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه واوريدل: چې ويې ويل: چا چې له امير څخه د اطاعت لاس واخيست ،نو د قيامت په ورځ به له الله تعالى سره په داسې حال كې ملاقي شي چې د ايمان په لرلو به هيڅ دليل ورسره نه وي او څوك چې په داسې حالت كې مړ شي چې له امير المؤمنين خليفه يا امام سره يې د بيعت كولو عقده په غاړه كې نه وي، نو داسې شخص د جاهليت)كفر) په حالت كې مړ شو ، ان فى ذالك لذكرى لمن كان له قلب او القى السمع وهو شهيد. د ق سورة

عملیات برق آسای مجاهدین ...

تبصره

عملیات برق آسای مجاهدین امارت اسلامی بنیان دولت فاسد و بی کفایت و متکی بر قدرت های یهودی ونصرانی که از یک ترکیب نامتجانس و گروه های رقیب و متخاصم تکشیل یافته به لرزه در آورده است.

پیشرفت برق آسا ، قاطع، سرنوشت ساز و بنیان بر انداز مجاهدین در استقامت موسی قلعه و در نهایت فتح آن در تسخیر ناپذیر رژیم را در هم شکست و غنایمی که ازین ناحیه نصیب مجاهدین گردید قابل ملاحظه میباشد ، علاوه از آنکه فتوحات مسلسل و بی وقفه رژیم را در موضعگیری انفعالی قرار دداده است، مهمات بجامانده به شمول اسلحه جات ثقیل این امکان را برای مجاهدین در آینده فراهم ساخته است تا با استفاده از آن و شناختی که از نوعیت اسلحه دشمن بدست می آورد در پیشرفت و ارتقای ظرفیت های خود برتری خویش را بر طرف مقابل در عرصه نظامی فزونی بخشد ، ضمن فتوحات کذایی تلفات جایی دشمن و از دست دادن پایگاه های نظامی حینیکه پارامتر ضعف و روحیه باختگی شان تلقی میگردد ، اضمحلال تدریجی قوت دشمن را نیز بدنبال دارد. و در فرجام لشکر بی و سروته متشکل از افراد بی انگیزه، در یک موقعیت دشوار در برابر مجاهدین سرشار از روحیه شکست ناپذیر و با انگیزه ایمان قرار میدهد .گرچه تبلیغات بی امان ائتلاف صلیبی و روحیه دادن به نیروی نظامی رژیم از طریق اشتراک مستقیم نیروهای زمینی و هوایی صلیبی در عملیات های نظامی میتواند ، بر علاوه امکانات مادی که تحایف نقدینه نقش اول را بازی میکند تا مدتی افت و شکست روحیه نظامیان رژیم را ترمیم کنند ، اما نقطه ایکه باید دشمن از آن آگاه باشد شکست علنی باداران شان است، که چندی قبل با اعلان اخراج نیروهای اضافی به آن معترف گشته اند و چیزیکه در شرایط کنونی وقوف به آن ضروری مینماید ، قضیه مربوط به اعلان خروج چینن نیروهای و علی الظاهر تخلیه بعضی مراکز نظامی است که از نظر مجاهدین قطعاً مطلبی که عنوان گردیده واقعیت نمیباشد یعنی سپردن رشته عملیات به نظامیان رژیم و تقلیل نقش آنها تا حد مشورتی و تعلیم و تربیت بر خلاف در صحنه عمل هنوز هم همان معادلات وضع شده نظامی از سوی موتلفین و متحدین صلیبی حاکم است، آنها قوماندهٔ میدهند ، اطلاعات استخباراتی و پلان گذاری عملیات، بمباردمان های مخرب تهیه لوژستیک ، استعمال ماشین های محاربوی اسلحه جات ثقیل و بعضاً پرسونل زمینی متشکل از آنها میباشند و از سربازان بومی و وطنی بعنوان پیش مرگ ها استفاده شده است. بمباردمان موسی قلعه به اعتراف سخنگویان رژیم تایید گردیده است که کار باداران شان است.

بهر کیف ماشین جنگی موتلفین قبلاً فلج گردیده است، ادامه به جهاد بر حق مجاهدین در مجموع آنها را مجبور به عقب نشینی کامل خواهند ساخت، چیزیکه برای مجاهدین امر محترم تلقی میگردد نه در حد یک تصور و اهی و بی پایه که گذشت زمان چنین ادعایی را محقق می نماید.

سید شریف

د طالبانو پر مختګونو

د داخلي عسکرو وړتیا و ننګونه ۱

له هغه وخته چې یرغلګرو ځواکونو داخلي عسکرو ته په اصطلاح د واک د انتقال پروسه بشپړه کړې، کورنۍ او بهرنۍ رسنۍ د افغان پوځ د پیاوړتیا پر موضوع ډیر فوکس کوي، دوئ د داخلي عسکرو د پیاوړتیا په اړه داسې راپورونه او تحلیلونه خپروي چې ډیر لږ د واقعیت او په پراخه پیمانه له مبالغه څخه پکې کار اخیستل شوی وي، د داخلي عسکرو پیاوړتیا د واقعي حالت څخه څو چنده زیاته ښودل تر هر چا او هر څه وړاندې خپله همدغه اردو ته لوی زیان دی، ځکه د خپل واک او ځواک څخه ناخبره ساتل د اردو د غولولو داسې پروسه ده چې ګټه یې په مانیو کې د ناستو جنرالانو او قوماندانانو جیبونو ته لویږي او سرونه پکې د اردو له منځه ځي.

روزمره ډیر داسې راپورونو اورو چې د داخلي عسکرو په فلان فلان سیمه کې په یوازې سر له طالبانو سره جګړه کړې، ډیرې سیمې یې ځینې نیولې او د سیمې پرښودلو ته یې اړایستلي دي او داسې نور ، اما په واقعیت کې طالبانو له ډیرو مهمو سیمو څخه کورنې عسکر شړلي او همدغه نیول شوي سیمې یې بیا تر کلونو کلونو ساتلي هم دي.

طالبانو سږ کال د عزم په نوم د عملیاتو له اعلان سره د هیواد په مختلفو سیمو او سمتونو کې پراخې سیمې او آن د ځینو ولسوالیو مرکزونه هم ونیول، په کندوز کې طالبانو د ښت ارچې ، امام صاحب، چهار درې ولسوالۍ او د ګورتپې او تیلاوکه سیمو څخه د حکومت لمن ورټوله کړه او خپله ولکه یې داسې پرې ټینګه کړې چې د پرله پسې تعرضي عملیاتو وروسته یې هم زیاتره نیول شوي سیمې په خپله ولکه کې ساتلي دي.

په فاریاب کې طالبانو د جنرال دوستم په مشري د الماس په نوم عملیاتو سره سره د قیصار، المار، پشتونکوټ، استانه بابا او چهلګزي ولسوالۍ له څو محدودو کلیو پرته نوري ټولې سیمې په خپل ګورت کې نیولي دي.

د سرپل د کوهستانات ولسوالۍ څخه طالبانو د یو ورځني تکتیکي شاتګ وروسته دغه ولسوالي بیرته ونیوله او د حکومتي ځواکونو څخه یې زیاتي وسلې او مهمات هم ونیول.

په ارزګان کې د سلطان محمد ناوه اوشالي ناوه چې ډیري ګڼ میشتي سیمې دي طالبانو په دې وروستیو کې په بشپړه توګه ونیولې چې تر اوسه یې حکومت د بیا نیولو خبره پر خوله هم نه ده راوړې.

هلمند کې د نوزاد ولسوالي یوه میاشت وړاندې طالبانو مکمله ونیوله د بیرته نیولو په موخه یې حکومت دوه ځله پراخ

تعرضي عمليات ترسره کړي ،خو لا هم ددغي ولسوالۍ پر مرکز او اړونده سيمو باندي د طالبانو سپين بيرغ رپيږي.

د طالبانو وروستۍ لويه لاسته راوړنه دموسی کلا د مهمي ولسوالۍ نيول دي، دغه ولسوالي خورا ستراتيژيک اهميت لري، ددغي ولسوالۍ د نيولو پرمهال طالبانو ډيري وسلې ، ټانګونه او موټر ترلاسه کړل اوحکومتي ځواکونو ته يې د سر او مالي درانه زيانونه واوړل.

د موسی کلا د اهميت او دلته د شديدي جګړې په اړه په ولسي جرګه کي د هلمند استازي عبدالحي اخند زاده ازادي راډيو ته وويل چي: « د موسی کلا غوندي سخته جګړه به دا پنځلس کاله چيري نه وي شوې، په دې جنګ کي پوليسو او ملي اردو ته ډير تلفات اوښتي دي او اخر يې له ناچاري څخه دغه ولسوالي پرې اينبې ده، موسی کلا اوس د طالبانو په ولکه کي ده، دا ډيره مهمه ولسوالي دي، دموسی کلا سقوط د هلمند سقوط دی.«

د طالبانو له خوا دموسی کلا د نيولو په اړه غربي مطبوعاتو هم خپل تاثرات بيان کړي دي، د بريتانيا څخه خپريدونکي ټايمز ورځپاڼي ليکلې چي طالبانو هغه ولسوالي (موسی کلا) يو ځل بيا نيولې چي د دفاع لپاره يې ډير بريتانيايي عسکر وژل شوي دي، ورځپاڼه ليکي چي: د افغان عسکرو سره د هوايي ملاتړ سره سره دطالبانو په لاس کي ددغي ولسوالۍ سقوط د افغان حکومت لپاره لوی شکست دی، ټايمز ليکي چي امريکايي الوتکو د طالبانو د پرمختګ ډب کولو په موخه د موسی کلا په مربوطاتو کي ډير هوايي بريدونه وکړل خو ددغي ولسوالۍ د سقوط مخه يې ونشوای نيولی، ټايمز زياتوي چي: د موسی کلا له نوم سره ډير برتانيايان اشنا دي ځکه دا دهغه ولايت (هلمند) يوه مشهوره ولسوالي ده چي ۴۵۳ بريتانوي پوځيان پکي وژل شوي دي.

په مجموع کي د هيواد په شمال ، او جنوب ختيځ او لويديځ کي د طالبانو پراخو سرښيو عملياتو او لاسته راوړنو يرغلګر ځواکونه او د کابل حکومت ډير نا ارامه کړی دی، دوی ډير کوښښ وکړ او لاهم لګيا دي چي د تبليغاتو په مټ د طالبانو پرمختګونه کم ارزښته وښيي او په همدې ډول د خپلو عسکرو مورال اوچت وساتي، خو مځکني واقعيتونه (دطالبانو پياوړتيا) ترډيره پټ نه شي پاتې کيدلای.

دولس سره سوال دی چي دا څرنګه پياوړی پوځ دی چي د هوايي او توپچي ځواکونو د ملاتړ سربيره يو په بل پسې لويې لويې سيمې پريږدي او طالبان چي وسايل يې په هيڅ صورت د حکومتي عسکرو د امکاناتو سره د پرتلې وړ نه دي ،ورځ تربلي پر مخ روان دي، ګڼې سيمې نيسي او بيا په دې هم توانيږي چي ولکه پرې ټينګه وساتي.

ه پای کي دې پايلي ته رسيږو چي د طالبانو وروستيو پرمختګونو د داخلي عسکرو وړتيا وننګوله ، رسنۍ او حکومت چي دافغان پوځ کومه وړتيا ښيي تر ډيره له واقعيتونو څخه ليري يوازي تبليغاتي جنبه لري

له الشرق الاوسط ورځپانې سره په تازه جریاناتو د ذبیح الله مجاهد تفصیلي مرکه

په خورا پراخه پیمانه او چټکۍ له نوي امیر سره دبیعتونو رارسیدو داخبره څرګنده کړه چې مجاهدینوته د صف دواحد ساتلو مسئله څومره مهمه وه.

د اسلامي امارت ویندوی ذبیح الله مجاهد په دا وروستیو کې د الشرق الاوسط عربي ژبې ورځپانې سره د وروستیو تحولاتو او پیښو په اړه تفصیلي مرکه کړې، چې د الشرق الاوسط ورځپانې څخه یې په مننې سره مورږ هم د خپلو مینوالو دلوستلو لپاره دلته په مورچل مجله کې کټ مټ خپروو !

پوښتنه: ملا محمد عمر څه وخت وفات شوی که معینه نیټه یې راته په ګوته کړئ او په کوم ځای کې خاوروته سپارل شوی؟؟

ځواب: بسم الله الرحمن الرحیم، الحمد لله وکفی والصلوة والسلام علی عباه الدین اصطفی امابعد:

عالیقدر مرحوم امیرالمؤمنین ملامحمد عمر مجاهد رحمه الله په کال ۲۰۱۳ م د اپریل په ۲۳ ورځ د ورپیښې ناروغۍ له کبله وفات او په خپله خاوره افغانستان کې چیرته چې اوسیده هم هلته دفن کړای شو، چې دامنیتي ملحوظاتو له امله نشوای کولای د نومورې د تدفین ځای تعین او څرګند کړو.

پوښتنه: ددومره اوږدې مودې لپاره ولې د تحریک له جنګیالیو او سیاسي مشرانو څخه داخبر پټ ساتل شوی وو؟

ځواب: تاسو پوهیږئ چې مورږ په خورا ستره جګړه کې له یو ظالم اشغالګر دښمن سره په جګړه بوخت یو ، د امیرالمؤمنین دوفات دخبر لوڅولو دهغوی په معنویاتو جدي تأثیر لاره، د دښمن په وړاندې د مجاهدینو د روحیاتو د کمزورې کیدو جدي احتمال ، نو مو د جیدو او خبیرو علماء کرامو په فتوا د امیرالمؤمنین د وفات خبر پټ او رازوساته او اعلان مو نشو کړای، لکه څرنګه چې ورته پیښه په خیرالقرون کې د حضرت ابوعبیدة بن جراح رضی الله تعالی عنه لخوا د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه دوفات خبر له هغو مجاهدینو څخه پټ وساتل شو چې په یرموک کې د حضرت خالد بن ولید رضی الله تعالی په مشري په جګړه بوخت وو ، کله چې جګړه ختمه شوه، او مجاهدینو ته د وفات دخبر رسیدو زمینه مساعده شوه، بیا نو د حضرت ابو عبیده بن جراح رضی الله تعالی عنه لخوا د امیرالمؤمنین ابو بکر صدیق رضي الله تعالی عنه د وفات خبر تصدیق شو ، هلته هم د وفات دخبر دپټ ساتلو اساسي علت د جګړې په مهال د مجاهدینو د معنویاتو ساتل وو ، نو لازمه وګڼل شوه چې فقط هغه څو نفره مشران اودمرحوم امیرالمؤمنین رحمه الله کورنۍ په لومړي سر کې په وفات خبر شوو ، هغه کفایت کوي، نورڅوک باید خبر نشي او خبر دیوه سر په ډول پټه وساتل شي.

پوښتنه: د ملا عمر له وفات وروسته داختلافاتو خبرونه څومره حقیقت لري ؟

ځواب: د امیرالمؤمنین د وفات څخه وروسته په خورا عاجله اولازمه توګه د جهادي حالاتو باریکۍ ته په کتو د اهل الحل والعقد شورا لخواچې د رهبري شورا له غړو او د جیدو علماء کرامو څخه ترکیب شوې وه، پریکړه وشوه چې نوی زعیم به ملا اخترمحمد منصور وي، ځکه هم ددې کار وړتیا لري، هم یې دا څو کاله عملا د ټول امارت رهبري په سختو شرائطو کې وکړه، دمجاهدینو پرې اعتماد دي او د امیرالمؤمنین ملامحمدعمر مجاهد رحمه الله لپاره هم د اعتماد وړ شخص وو ، نو هغه دنوی امیر په توګه غوره شو ، کله چې دنوی امیر د ټاکل کیدو خبر خپور شو ، له ټول هیواد څخه د جهادي محاذونو مشرانو ، قومندانو ، مخورو ، علماء کرامو ، مجاهدینو او عام ولس د بیعتونو لړۍ پیل او په ۷۲ ساعتونو کې تقریبا د هیواد له هرې برخې څخه دبیعتونو پیغامونه راورسیدل او داخبره یې څرګنده کړه چې مجاهدینوته د صف دواحد ساتلو مسئله څومره مهمه وه او همداراز په خپلو مشرانو او علماء کرامو باندې څومره کلک اعتمادي او باوري ول او شخصا دملا اخترمحمد منصور په ټاکنه څومره راضي ول.

پاتې شوه د یوه یا دوو نفرو اختلاف هغه هم له امیر سره نه بلکې د ټاکل کیدو په پروسه او طرز العمل باندې هغه دومره جدي ندی، او دا طبیعي ده چې په دومره لوی صف کې د مختلفو افکارو او برداشتونو لرونکي اشخاص راټول شوي او خامخا به بیلابیل نظریات موجود وي، خو هغه نظریات په اساسي توګه جدي نه وو او ډیر ژر به دحل لازمې لارې ورته ولټول شي دعلماء کرامو وفد پرې جدي

کار کوي او موږ په صف کې دننه هیڅ اندیښنه نه ترې لرو.

البته اسلامي امارت دخپل مکلفیت، زغم او مسئولیت له مخې بیا هم هڅه کوي چې دغو کسانو ته هم بیرته قناعت ورکړي چې د امارت په حمایت کې پاتي شي او د اسلامي امارت دښمنانو ته د امارت پسې د پروپاګند کولو موقع په لاس ورنکړي او په اګاهانه یا غیر اګاهانه ډول د پردو لاسونو الهء جوړ نشي.

پوښتنه: آیا ملا اختر محمد منصور دکوټې شورا دټولو سیاسي مشرانو له ملاتړ څخه برخمند دی او ټولو بیعت ورسره کړی ؟؟

ځواب: دکوټې د شورای په نوم مصطلح اسلامي امارت په خپل تشکیل کې نه لري بلکي اسلامي امارت دخپلو جهادي فعالیتونو د پرمخ وړلو لپاره ځانګړي تشکلات او کمیسیونونه لري چې هغوی ټولو په ښه اتفاق او وحدت سره همداراز د رهبري شورا مطلق اکثریت اعضاؤو او د جیدو علماء کرامو ،با اعتباره نماینده ګانو له نوی امیر ملا اخترمحمد منصور حفظه الله سره د امیر په ډول بیعت کړی، هغوی په ټول ولس هم غږ وکړ چې بیعت وکړي، همداسې وشول موږ مخکې وویل چې په ظرف د۷۲ساعتونو کې له ټول هیواد څخه دجهادي محاذونو څخه، دکلو او قصباتو څخه، دښارونو او قومونو څخه، همداراز د هجرت په دیاراو له بیلابیلو هیوادونو څخه د افغانانو دبیعتونو راپورونه راورسیدل چې دا سلامي امارت له رسمي سایټ الامارة څخه مخامخ دهغوی راپورونه او جزئیات هم خپریدل، نو ویلای شو چې نوی امیرالمؤمنین ملااخترمحمد منصور یو متفق علیه امیر ده او په ټاکلو کې یي هیڅ ستونزه نه ده رامخې ته شوي.

پوښتنه :آیا کولای شئ دملا اختر محمد منصور دشخصیت په اړه یوڅه وږغیږئ. ځکه په ختیځ اولویدیځ کې مسلمانان دنوموړي په اړه ډیر کم معلومات لري، آیا په لنډه توګه ویلای شو چې نوموړی داسلامي امارت له شاهینانو څخه دی ؟

ځواب: هو ! نوی امیر ملااخترمحمد منصور حفظه الله د طالبانو د اسلامي تحریک له پیل څخه د عالیقدر امیرالمؤمنین ملامحمد عمرمجاهد رحمه الله له نیږدې ملګرو څخه وو ، له پیل څخه یې دامارت په صفوفو کې مهمې او غټې نظامي او ملکي عهدې ترسره کړي دي، پنځه کاله دهوانوردۍ وزیر پاته شوی د امریکایي اشغال په وخت کې دنوي تشکیلاتو له مخې له پیل نه درهبري شوری له غړیتوب سره ترڅنګ لومړی د کندهار دوالي په توګه بیا د اسلامي امارت د لومړي نائب ملا عبدالغني برادر فک الله اسره دمرستیال په توګه معرفي وو او جهاد یې کاوه، کله چې ملا عبدالغنی برادر ونیول شو، بیا دامیرالمؤمنین ملامحمد عمر مجاهد رحمه الله لخوا په ۲۰۱۰م کال کې ملااخترمحمد منصور د امیرالمؤمنین نائب وټاکل شو او دا ۵ کاله یې د امارت چارې عملا سمبالولي او الحمدالله په خورا سختو بحراني حالاتو کې یې د امارت دنیابت دروند پیټی چې په واقعیت کې دعمل په ډګر کې د امارت دزعامت دنده وه په خورا ښه توګه ترسره کړه، د مجاهدینو سره ډیره ښه رابطه لري، ډیر زړه

سواند انسان دي، ډيره حوصله او برداشت لري، دتقوا او علم خاوند دی، دمشورې او له علماء کرامو څخه د نظر اخیستلو او په هره مسئله کې د خورا احتیاط کولو په ارزښت ډیر پوهیږي او ورته پابند دی، په سیاسي اومورو کې ښه بصیرت لري دمجاهدینو ترمنځ محبوبیت لري، د جهادي مسئولینو لپاره یو مشفق او با درده مشر پاتې شوی، نو ان شاءالله داسلامي امارت مجاهدین هیڅ ډول تشویش نه ترې لري بلکې ډیر ښه اعتماد پرې لري او آزمویل شوي شخص دي.

پوښتنه: آیا له حکومت سره دخبرو اترو په هکله کوم نوی دریځ لرئ او دموضوع اړوند تازه څه شتون لري؟؟

ځواب: مورږ د خبرو په اړه کوم نوی موقف نه لرو، د امریکایانو لخوا دافغانستان اشغال دوام لري، دکابل اداره بې واکه ده، داسلامي امارت دخبرو په اړه واک د اسلامي امارت له سیاسي دفتر سره دی، کله چې هغوی لازمه وبولي او په دې متیقن شي چې اشغال ختم شو، او په هیواد کې د اسلامي نظام اقامه د خبرو له لارې هم راتلای شي، بیا په دې کار کې کومه ستونزه نشته.

پوښتنه: آیا تاسې دداعش له نفوذ څخه دا ویره احساسوئ چې هغوی به دطالبانو ځای ونیسي؟

ځواب: دا عش (د اسلامي دولت ډله) په عراق او منځني ختیځ کې دهغه محیط د سیاسي، پوځي او مذهبي ترخو واقعاتو محصول دی، داچې په افغانستان کې تراوسه هماغه ترخه او ناګواره واقعات شتون نه لري لهذا د داعش موجودیت ته هم نه دلته ضرورت شته او نه مونږ تري د ویري احساس کوو.

مونږ تل دا هڅه کړې چې په افغانستان کې د طائفي، مذهبي او نورو خپل منځي اختلافاتو مخه ونیسو، الحمد لله تر اوسه په دې کار کې ډیر موفق یو، په راتلونکي کې هم له الله تعالی څخه توفیق غواړو چې ملت مو په یوه صف کې د اشغالګرو اجنبیانو مقابله وکړي او له تشتت او پراګندګي څخه یې خدای محفوظ ولري.

پوښتنه: د ځینې طالب قومندانانو له لوري له طالبانو سره دملتیا پریښودلو او له داعش سره دیوځای کیدلو خبرونه څومره حقیقت لري؟

تاسي ته معلومه ده چې اسلامي امارت په خپل اداري سیستم او تشکیلاتو کې په خپلو مربوطو افرادو ښه تسلط لري، دهغوی د فعالیتونو او صلاحیتونو لپاره یې یوڅو خاص لوائح او مقررات تاکلي، هغوی مکلف دي چې د همدغو معلومو لوائحو او مقراتو په چوکاټ کې خپل کارونه پرمخ بوزي.

یوشمیر داسې کسان چې هغوی غوښتل د امارت له نامه نه په استفادې سره داسې کارونه ترسره کړي چې هغه د اسلامي امارت د لوائحو او شرعي مقراتو خلاف ول، د اسلامي امارت چارواکو هغوی له دې کاره منع او هغوی یې تنبیه کړل چې باید داسې کارونه ونه کړي، خو دوی بیاهم د امارت له لوائحو څخه په سرغړونې سره خپلو غیر شرعي کارونو لکه اختطاف، ناحقه د ولسي کسانو ځورونه، لاري شکونه او داسې نور کارونه ترسره کړل چې اسلامي امارت مجبورا

هغوی له خپله صفه اخراج کړل او ځینې یې شرعي محکمې ته راوبلل.

همداکسان ول چې د ځینو اجنبي جهتونو په لمسون د ننګرهار ولایت په ځینو محدودو سیمو کې سره راټول او د داعش) اسلامي دولت ډلې) تر نامه لاندې یې د اسلامي امارت خلاف مقابله پیل کړه ، چې لله الحمد ډیر ژر د اسلامي امارت د وسله وال ځواک او د سیمې د خلګو په هرا ړخیزه مرسته اوس هماغه سیمې زیاتره د دوی له شتون څخه تصفیه شوې او اوس کوم جدي مزاحمتونه د اسلامي امارت په وړاندې شتون نه لري.

پوښتنه :د افغانستان د رئیس جمهور مرستیال عبدالرشید دوستم هوډ کړی چې دفاریاب او کندز په ولایتونو کې به له طالبانو سره مقابله کوي، دا به د طالبانو په روحیاتو څه اغیز ولري؟

ځواب: له دوستم سره مورچل پخوا خپل زور ازمویلی، دوستم موځلې له هیواد څخه فرار ته اړ کړی دی، داچې امریکایان راغلل او دوستم د امریکایانو دهوایي ځواک په زور دلته حاکم شو ، دا جلا خبره ده.

په نظامی قطعاتو کې د دوستم موجودیت او نه موجودیت هیڅ تأثیر نه لري، دوستم پخپل حضور سره نه خپلو ګلم جمو ته روحیه ورکولای شي او نه هم د مجاهدینو په روحیه کومه بده اغیزه شیندلای شي، ځکه زمورږ مبارزه هغه مبارزه ده چې امریکایان مو له ډیرو امکاناتو او قوت سره سره مات کړل، دوستم لا څه شی دی، دا به بیا هم شکست خوري ان شاء الله تعالی.

پوښتنه :په غرب کې مورږ دا خبرې ډیر اورو چې د طالبانو مبارزه د پاکستان د استخباراتو له لوري په مخ وړل کیده، او ملا عمر یوازې سمبولیک شخصیت وو ، حقیقت څه دی ؟؟

ځواب: هو ! داسې پروپاګند تنها زمورږ پسې نه بلکې دهر آزادۍ غوښتونکي خصوصا بیا مسلمان تحریک پسې ویلی کیږي، تهمت ویونکي د الله تعالی په نصرت او مرسته باور نه لري، هغوی د عقیدې په لحاظ په الله تعالی او دهغه په لاره کې په جهاد او قربانۍ باور نه لري، نو حیران پاتې دي چې څرنګه ممکنه ده چې دومره ضعیف خلک او تش لاسې مجاهدین د اسې بریالی شول او دومره غټ دښمن یې مات کړ؟ نو دخپل عقل د تسکین لپاره هڅه کوي زمورږ مبارزه کله تر پاکستان پورې وتړي، کله یې بیرته په امریکا او دهغو تر استخباراتو پورې وتړي او کله نور افواهات ووایي.

مورږ ډاډ ورکوو چې زمورږ جهاد د هیڅا د احسان پوروړی نه دی، او نه هم بهرنۍ مرستې او استخباراتي پټ لاسونه کولای شي چې دومره غټه مبارزه پرمخ بوځي، ځکه که بهرنۍ مرستې او د استخباراتو همکاریو ګټه درلودای نو به یې امریکایانو اودهغو لاسپوڅو ته ګټه کړی وای، ځکه د نړۍ په سطحه امریکا ډیر قوي استخبارات لري او په پټه هم نه بلکې برالای یې زمورږ په هیواد کې دا ځوارلس کاله فعالیت وکړ، خو نتیجه یې صفر ده، او که بهرني ملاتړ ګټه درلودای نو به د کابل اداره اوس له هرمشکل څخه خلاصه وه ځکه د ۴۹ بهرنیو مجهزو هیوادونو مرسته ورسره وه.

داچې ټول ناکام شول دا د الله تعالی د دین برکت دی او د مجاهدینو په مقابل کې دهغوی د بطلان ښکاره ننبه ده، هغه خلک چې عقل یې د دغه رمز درک نشی کولای په موږ پسې بد اتهامات ټړي او دا دهغوی د عقل او درک سویه ده.

پوښتنه :آیا طالبان داسې یوه حالت ته راغلي چې ځواکمن مشرتابه ته اړتیا ولري ترڅو یې صفونه یو موټی کړي، او د طالبانو د تحریک په راتلونکي به د دې اغیز څه وي ؟

ځواب: داچې جهادي صف د قربانیو او سرښندنو صف دی ، دلته هره لحظه د قیادت په شمول د شهید کیدولو ، اسیر کیدلو او یاهم په طبیعي مرګ د وفات کیدلو احتمال متوقع وي ، ځکه نو د جهادي صف مشرتابه مخکې ترمخکې لا د دې صف د رهبري لپاره تدابیر سنجولي وي ، جهادي صف پرنورو خصوصیاتو او مشخصاتو سربیره د قیادتونو د روزنې او تربیې هم مدرسه ده ، دلته که نن یو مشرشهید کیږي ،یا اسیر کیږي او یاهم په خپل طبیعي مرګ وفات کیږي ، مجاهدین د دې واقعې په راتلونکې نه کمزوري کیږي او نه د کمزورتیا احساس کوي ، ځکه هغوی ته لا وړاندې په فکري لحاظ دا ورتلقین شوي وي چې د جهادي لارې تداوم په شخصیاتو او افرادو پوري نه وي تړلی ، بلکې د هغې تداوم او وابستګي په افکارو او مبادئو پوري وي ، په دې لارې کې به د طبیعي او یاهم د عسکري حوادثو له امله اشخاص او افراد حتما اوړي را اوړي خو افکار او مبادئ چې د جهادي لارې اساس دی هغه به تل ثابت وي.

همدا لامل دی چې د امیر المؤمنین په وفات سره په مجاهدینو کې ډهیڅ کمزوری احساس نه کیږي ، بلکې د هغه له پیل کړې لارې سره د وفاداري له امله لا په ډاډه او ځواکمن شکل د خارجي یرغلګرو او دهغوی د ملاتړو پرخلاف خپل جهاد ته ادامه ورکوي.

د دې ترڅنګ د اسلامي امارت نوی زعیم محترم منصور صاحب هم یو تجربه شوی او خورا بریالی مشر پاتې شوی، مرحوم امیر المؤمنین پرې اعتماد درلود ، په عملی میدان کې یې جهادي صف په سختو شرائطو کې رهبري کړی، اوس یې د ځان لپاره خورا قوي او با رسوخه، په دین پوه مرستیالان هم تاکلي، قوي رهبري شورا چې ټول اهل خبره اشخاص او د اسلامي امارت د سرخلک په کې عضویت لري داهم ورسره ده، نو امید لرو چې تر پخوا به د اسلامي امارت وحدت لا ډیر ټینګ وساتل شي او تر پخوا به لا ډیر په قوت کې زموږ موجودیت ثابت شي ان شاءالله.

پوښتنه: دا خبره ترڅومره حقیقت لري چې طالبان او سمهال د تمویل په برخه کې له ضعف سره مخامخ دي ؟؟

ځواب: زموږ په باور موږ د ضعف زمانه شاته پریښوده، اوس الحمدلله زموږ مجاهدین او امارت لا د قوي کیدو په حال کې دی، موږ د خپل ولس پراخ ملاتړ له ځانه سره لرو ، ورځ په ورځ پرمختګونه لرو ، په نظامي ساحه کې هره ورځ لسګونه میله سپکه او درنه وسله، مهمات او لازم توکي له دښمن څخه په غنیمت راته پاتې کیږي، نو

زه داخبره ردوم چې خدای مکړه امارت دې د تمویل په برخه کې له ضعف سره مخ شوي وي.

پوښتنه: ملا اختر منصور څوک دی او دطالبانو په لیکو کې څه ځګړه ییز رول لري؟

ځواب: محترم ملا اختر محمد منصور دطالبانو د تحریک د لومړنیو خلکو څخه دی، د روسانو سره په جهاد کې یې هم ونډه درلوده، حتی دی هم د خپل سلف په څیر له روسانو سره په مخامخ جګړه کې سخت ټپي شوی د امارت د حاکمیت په مهال یې په مختلفو او مهمو دندو کار کړی، اسلامي امارت د هوانوردۍ وزیر پاتې شوی، د اشغال په وخت کې په سختو شرائطو کې د کندهار عمومي نظامي مسئول (والي) پاتې شوی، بیا د محترم ملا برادر اخندن له نیول کیدو وروسته د اسلامي امارت د نیابت په مهم او خطیره دنده پاتې شوی، د اسلامي امارت مجاهدین، مسئولین، علماء او ټول د جهاد دلاړې لارویان ښه احترام ورته لري، په شفقت او زړه سوي باندې یې باوري دي، د صف د کنترول او اداره کولو صلاحیت او وړتیا په کې وجود لري، د علماء کرامو او اهل خلکو مشورو ته ډیره اعتناء کوي ډیر ښه سیاسي بصیرت لري چې دا ټول صفتونه یې ددې باعث شول چې اسلامی امارت یې د خپل نوي زعیم په توګه معرفي کړي او بیا د ټول هیواد په سطحه ومنل شي. پوښتنه: آیا د ملا اختر منصور له تاکل کیدو وروسته ځګړه ییز وضعیت د حکومت په ګټه بدلون موندلی ؟

ځواب: مورږ د محترم منصور صاحب تجربوته په کتو او بیا دهغه دوه مرستیالانو او ورسره د اسلامی امارت درهبري شورا ملاتړ ته په کتو په دې باوري یو چې په هیواد کې ځګړیز حالات به په مثبته خوا خورا ښه تغیر وکړي، ځکه منصور صاحب د پخوا پرخلاف اوس له ډیر غټ صلاحیت او مسئولیت سره له مسائلو سره مخ دی، حتما به په ډیر زړور توب او ډیره ښه سنجونه سره کارونه پرمخ وړي چې داکار به حتما د جهاد په نظامي حالت مثبت اغیز پرې باسي، ترهغه ځایه چې مورږ منصور صاحب پیژنو ښه حوصله لري، ښه استقامت لري او په الله تعالی ښه توکل لري، نو ویلای شو چې په جهادي ډګر کې به ډیر پرمختګونه وګورو او حکومت داری به یې هم ان شاءالله هیڅ ستونزه ونه لري. وماذالک علی الله بعزیز

ذبیح الله مجاهد د افغانستان د اسلامي امارت ویاند

غلامې څيرې وپيژئ!

دامريکايي پيټرويس دپروسې دتکميل داعي او داربکيانو سرغنه کمونيست جنرال دوستم چې ددې مؤمن ولس پرسرونو يې دروبل او ډالر په بدل کې دري لسيزې دجبر او استبداد ميچنې وچلولې او وحشي مليشو يې چې له چنګيزي اوباشانو سره يې کوم توپير نه درلود ، هر هغه څه وکړل، چې قلمونه يې له پوره ليکلو نه عاجز دي، خو له دې ټولو ظلمونو سره سره يې لاهم دافغان غيرتي او مجاهد اولس سپيڅلې په ايمان ښايسته او جهادي ارادي يې له امريکايي ديموکراسۍ او غلام فکر سره غوټه نکړاي شولې ، چې دډاکټرنجيب ،علومي ، شاهنواز تنې او نورو غلامانو او بې دينو په څير داشتراکيت پر اخور لوی شوي ول ،هيڅ کله يې هم ددې ملت نبض نه وو کتلی، چې هر رګ يې دخپلو غيرتي نيکونو له وينو څاپو وهي او لايې هم ندی درک کړی، چې دلته يوازي دايمان څښتنان په ارامه ژوند کولای شي او يوازي به دتوحيد توغ په رپيدو وي، نه به ورکې دپرونۍ شوروي ارمانونه پوره کيږي او نه هم د ننني امريکا فرمايشونه ،هو جګړه به وکړي، خو دپرديو دخوشحالولو په موخه جګړه ،د(شاه شجاع) په څير جګړه، چې نوم به يې تاريخ په تورو کرښو ليکي او يا به يې پوپنا کوي. تاريخ په زرينو کرښو يوازي هغه نوموتي خپلې حافظې ته

سپاري، چې دخپل دين هيواد او ازادي لپاره يې مبارزه کړې وي، دخپل تن په وينو يې دسپين قرآن دعملي کيدلو لپاره لار هواره کړې وي، دخپل اولس اوښکې يې پاکې کړې وي ،دخپلو کونډو ،رنډو خويندو او ميندو عفت يې ساتلی وي، دبې وزلو او يتيمانو زيرمه يې کړې وي، دهيواد اصلي هويت وقار او غزت يې ساتلی وي.

دتاريخ قهرمانان هغه څوک دي، چې اولسونه له غلامي وژغوري، نه دا چې دنورو غلامي پر ځان ومني ،ښاد او سرلوړي دي وي ،هغه اولسونه، چې دهمداسي قهرمانانو شا نيسي، بريالي او کامياب دي وي هغه قائدين چې اولس ته پيغور نه پريږدي !

هغوئ چې داولس په ارمانونو يې سوداګري وکړه، دخپلو شهيدانو وينې يې په نه څه وپلورلې، دخپلو دې شومو اعمالو انجام يې په خپلو سترګو ولید ، چې نن خپل ضمير ته شرميدلي ،دامريکا په لاس په جوړ شوي پارلمان کې دخپلو شهيدانو له قاتلانو سره ناست او دخو ډالرو په بدل کې دخپل اولس په خلاف يا شيطاني فتواوې صادروي او ياهم په يو نه ډول ورسره مرسته کوي.

دوئ بايد پوه شي، چې مجاهد اولس دوئ پيژندلي او يو وخت به يې دعدالت ميز ته راکاږي.

فقهي څېړنې

د بانک نوټ دیني لیدلوری (شرعي حیثیت)

مفتي / حبیب الله قاسمي

یادونه :

په دې مقاله کې د بانک نوټ په اړه څېړنه شوې ده ، لومړی د نوټ په اړه د تېر او اوس وخت دفقهاوو نظرونه له دلایلو سره لیکل شوي دي ، دمقالې په پای کې د نوټ په اړه ځینې نور ضروري حکمونه هم وړاندې شوي چې په اوس وخت وړاندې بحثونه کیږي اوپه اړه یې زیاتي پوښتنه کیږي ، ماغوښتل چې د افغاني علماوو نظرونه هم د بانک نوټ دشرعي حیثیت په اړه ولیکم خوله هڅو سره سره د هغوی دکوم لیکلي اثر په موندنه بریالی نه شوم ، کیدای شي د الله پاک په مرسته داسې څوک پیدا شي چې دغه لیکنه لولي اوپه اړه مرسته وکړي زه به یې مننډوی یم .

لومړی : د بانک نوټ پیژندنه :

د نوټ لغوی معنا : د بانک نوټ چې په عربي کې یې ((الأرواق النقدية)) ، ((النقود الورقية)) او یا هم ((الأنواط)) بولي فرانسوي کلمه ده[1].

د نوټ اصطلاحي معنا :

دا دحکومت له لوري یوه ژمن پاڼه ده چې چلښت یې حکومت پرخلکو د سیکې په څېر منلی[2] دی. [3].

د بانک نوټ دیني لیدلوری (شرعي حثیت) :

---

۱ «بهجة المشتاق»د علامه سید احمد بک الحسیني رح لیکنه . وګورئ دشیخ احمد البناء الفتح الرباني ۸ټوک ۲۴۸مخ ، اوبحوث فی قضایا فقهیه معاصرة: ۱/ ۱۴۹ .دمفتی محمد تقي عثمانی د مقالو ټولګه

۲ جدید فقهي مباحث دمولانا مجاهد الاسلام لیکنه اوراټولونه دوهم ټوک ۸۸مخ .

۳

داچې بانک نوټ له دوهمې نړۍ والې جګړې وروسته دود شوی و ځکه يې د فقهې په مشهورو اوپخوانيو کتابونو کې حکمونه ، نه موندل کيږي. [۴] په دې مقاله کې غواړو د نوټ پر ديني ليدلوري (شرعي حثيت) درسره خبرې وکړو، دټبر نژدې وخت او اوس مهال د درنو فقهاوو نظرونه درته وړاندې کړو .بيابه دبانک نوټ په اړه ځيني نور ضروري حکمونه درسره شريک کړو :

لومړی : دبانک نوټ په اړه دفقهاوو نظرونه :

بانک نوټ چې د زر روپو پرځای منځ ته راغلی اوس يې دهغوی ځای نيولی دی اوس په ګرده نړۍ کې ټوله راکړه ورکړه پر همدې نوټو کيږي ،ځکه غواړو چې دنوټ په اړه درسره زمونږ دعصر فقهاوو بېلابيل فقهي نظرونه درته وړاندې کړو ، چې ټول اوه نظرونوته رسيږي؛ خو مونږ دلته څلورو مشهور نظرونه په لنډ ډول ليکو ،بيايې تفصيلي څېړنه هم ستاسو مخ ږدو :

لومړی نظر : نوټ ديور(Debt)لاسوندی (سند)(Ceritficate)

دوهم نظر : نوټ سامان دی .

دريم نظر : نوټ دزر متبادل دی

څلورم نظر : نوټ دود شوې روپۍ (عرفي ثمني) دي او دفلوسو حکمونه ورباندې پلي کيږي .

[۱]ـ دلومړي نظر څېړنه اوشننه :

لومړی نظر دادی چې : د پور سند دی [۵]؛ په دې معنا چې مونږ چاته نوټ ورکوو نو معنابه يې داوی چې : همدومره اندازه پور يې پر مونږ واوښت او پرغاړه مو شو ، دغه نظر دهند نامتو علماوو درلود چې نومونه يې دادي :

۱ـ مفتي رشيداحمد ګنګوهي [۶] رحمه الله. [۷]

---

۴ الفقه الاسلامی وادلته : مجلة المجمع الفقه الاسلامي ټوک مخ .

۵ داسې چې نه په خپله مال دی،نه هم د سرو اوسپينو زرو بديل دی، او نه ثمن ورته کيدای شي.

۶ فتاوی رشديه : ۴۹۰مخ .

۷ ددې عالم لنډه پېژندنه کوو چې دنظر ارزښت يې معلوم شي ، دغه نامتو فقيه دهند په ګنګوه سيمه کې پرکال ۱۲۴۴هـ زيږيدلی و ، دسترو ديني خدمتونو ويارلري ، پنځه کاله انګريزانو په مالټا زنداني کړی و ده به په يوزاې سر د حديثو لويه دوره کوله ، (۸۶۰)علماوو پګړۍ ورباندې ټرلې وې ،په دوی کې زمونږ د هېواد نامتو عالم ملا عبدالرزاق اندړ (مړ هـ) هم و ، مفتي رشيد احمد رحمه الله د ژور فقاهت له امله د ((دوهم ابوحنيفه)) لقب ګټلی و ، د ديوبند مدرسې دحديثو نامتو استاد علامه انورشاه کشميري رح د ((فقيه النفس)) لقب ورکړی و سره له دې چې کشميري رح تيار نه و چې دغه لقب دې څوک د علامه ابن عابدين شامي رحمه الله غوندې ستر فقيه ته وکاروي دفتاوا ګانو ټولګه يې د ((فتاوی رشيديه)) نومېږي ،وګورئ : اکابر ديوبند کياتهي دمولانا تقي عثماني ليکنه

۲ـ مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله .[۸]
۳ـ مفتي محمد شفيع[۹] رحمه الله .[۱۰]

۸۸مخ ، دغه نامتو فقيه په ۱۳۲۳هـ مړ دی، وګورئ : تاريخ دارالعلوم ديوبند : مخونه : ۵۴- ۵۶. الاعلام بمن تاريخ الهند من الاعلام : دريم ټوک ۱۲۳۱مخ .« د فقهې اوفقهاوو لنډ تاريخ » دحبيب الله قاسمي ليکنه .

۸ دغه نامتو فقيه په ۱۲۸۰هـ په هند کې زيږيدلی، په شل کلنۍ کې پرکال ۱۳۰۰هـ کې د ديوبند په ستره مدرسه کې يې دملايي پګړۍ وترله ، بيايي څوارلس کاله پرله پسې دهند په کانپور ولايت کې په يوه ساه تدريس وکړ ،د ژوند وروستي کلونه يې په خپله سيمه «تهانه بهون »کې تېر کړل خلکو ته به يې دښو چارو ښوونې کولې، ددې ترڅنګ يې علمي خدمتونونه هم کړي ، هره ورځ به يې ليکنه کوله ليکنې له زرو کتابونو واوښتي ،په دې داسې کتابونه هم شته چې څوټوکه دي، د فقهاهت کچه يې له اردو فتاوی«امداد الفتاوی » نه ښه څرګندېږي ،بله ستره علمي کارنامه يې د «اعلاء السنن» کتاب دي چې دنومړي په نوښت اوڅارمولانا ظفر احمد عثماني رحمه الله په درويشت (۲۳) ټوکه کې په عربي ژبه وليکه، داکتاب زمونږ دحنفي مذهب فقهي مسايل دحديثو له ليد لوري څيړي، دغه نامتو فقيه په ۱۳۶۲هـ کې مړدی . وګورئ د امداد الفتاوی سريزه زمونږ داستاد مفتي محمد تقي عثماني ليکنه .

۹ دغه نامتو فقيه په ۱۳۱۴هـ دشعبان ۲۱مه نېټه زيږيدلی وپه ۱۳۳۷هـ ددارالعلوم ديوبند مدرسه کې يې پګړۍ وترله په دارالعلوم ديوبند کې دتدريس ترڅنګ دهمدې مدرسې ددارالافتاء کې دمشر مفتي مولاناعزيز الرحمن رحمه الله ترڅارني فتواګانې وليکلې بيا داستاد له وفات په ۱۳۴۹هـ کې دهمدې مدرسې لوی مفتي وټاکل شو ، اوتر ۱۳۶۲هـ پورې و اوپه دې موده کې يې په خپل لاس څلوښت زره فتواګانې وليکلې ، د هند اوپاکستان له وېش وروسته دپاکستان په کراچۍ ښار کې مېشت شو د ستره ديني مدرسه د دارالعلوم کراچۍ بنسټ يې کېښود ، دغه مدرسه ډېرې ځانګړې لري، د شاګردانو علمي ودې ته يې ځانګړې پاملرنه کېږي اوپرهمدې يې زيات تمرکز دی، ددې تورو ليکوال هم په ۱۴۱۹هـ کې له همدې بختورې مدرسې فارغ دی، ددغې مدرسې له دارالافتاء څخه يې هم «اويا زره نهه سوه اولس » فتواګانې دخلکو دپوښتنو په ځواب کې ليکلي دي . دغه راز مفتي شفيع رح دخپل استاد مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله فتوا په شپږ ټوکه کې خپره کړه ، دی په لس ګونو «فقهي بحثونه» اومقالې لري، چې د«جواهر الفقه» په نامه په شپږ ټوکه کې خپرې شوې ، په اردو ژبه د قرانکريم ښکلی منل شوي تفسير د «معارف القران»لري ، مفتي شفيع رح په ۱۳۹۵هـ کال کې مړ دی ، داسلامي نړۍ

زمور دتیر نژدې پیر زیاتر وافغاني نامتو علماوو همدا نظر و، ، ماته مې د خپل والد صاحب مولوي صاحب رحیم الله زرمتي رحمه لله له خولې مې یاد دي چې پورته نظر د نیک نام کلا ملاصاحب (مولوي عبدالصمد) رحمه الله هم درلود[11] چې زیاتره زده کړې یې په هند کې کړې وې او د سیمې نورو نامتو علماوو هم دغه نظر درلود.

دلومړي نظر دلایل :

ددې نظر علماء دخپل فقهي موقف له پاره لاندې دلایل لري :

لومړی دلیل : پربانک لیکلې ژمنه :

بانک نوټ باندې بانک داسې ژمنه لیکلې : ((دافغانستان بانک ددې سند لرونکې ته ژمنه ورکوي چې دغوښتنې پر وخت به دومره افغانۍ ورکړي)) نو د دې ژمنې معنا همداده ،چې نوټ دپور سند اولاسوندی دی. همدا خبره علامه سید احمد بک داسې بیانوي : فقوله ((قابلة لدفع قیمتها لدی الإطلاع لحاملها الخ لم یجعل شکا فی أنها سنداتُ دیون ...))

ژباړه : پر دنوټ دغه لیکلې خبره چې خاوند ته دې د غوښتې پرمهال ددې نوټ رښتینی قیمت وسپارل شي ددې نښه ده چې : داد پور سند دی .[12]

دوهم دلیل : دنوټ په بدل کې چې څومره اندازه سره زره اخیستل شوي دي هغه ټول دحکومت په زیرمتون کې په خپل حال پراته دي، له دې ښکاري چې نوټ په بازار کې کوم ارزښت لري[13] دادهمدې خوندي شویو زرو په زور یې لري ،ځکه خو وایم چې نوټ حکومت ته د سپارل شویو زرو سند دی .[14]

مشهور فقیه مفتي محمد تقي عثماني یې زوی دی، چې په عربي اردو اوانګریزې کې دلس ګونو کتابونو لیکوال دی.

۱۰ وګورئ : امداد الفتاوی : ۲/ ۵.

۱۱ دنومورې عالم پیژندنه ماپه خپل کتاب نومیالي عالمان کې کړیده .

۱۲ بلوغ الاماني على الفتح الرباني ۲/ ۲۴۸مخ دمصر لومړی چاپ ۱۳۵۶هـ.

۱۳ د نوټ د دود کښدو پر وخت واکمنو ته د نوټ په بدل کې خلکو ته څومره اندازه زر سپارل ، هغه مهال واکمنو له خلکو سره ژمنه کړې وه، چې د غوښتنې پرمهال به ببرته په همدومره کچه زر درکول کیږي ،څومره چې دحکومت زیرمتون (خزانې) ته دنوټ په بدل کې سپارلي وو.

۱۴ الفتاوی السعدیه ، ۳۳۲مخ ، دعلامه عبدالرحمن ناصر سعدي لیکنه دسعودی عربستان د معارف مکتبې دوهم چاپ کال ۱۹۸۲م.

دریم دلیل : بانک نوټ په خپل ځان کې دکاغذ یوه عادي ټوټه ده، بیا دغه ټوټه په خپل منځ کې دبیې له پلوه سره تـوپیر لـري ،داسې چې دیوه بېه زیاته او دبل پې کمه وي ،د مثال په ډول د سلو نوټ اوپنځه سوه (۵۰۰) نوټ سره له دې چې دواړو کاغذ سره یـوډول دی ،خوپه قیمت سره توپیر لري ؛ نو داسې ښکاري چې دبیو دغه توپیر پې د هغو زرو له امله موندلی دی، چې دغه دواړه کاغذونـه پـې سندونه دي .

څلورم دلیل :

که چېرته واکمن دهمدې نوټونو په راکړه ورکړه بندیز ولګوي اوله چلښت څخه پې وغورځوي، نوبیایي حکومت په بدل کې زیان ورکوي داهم ددې خبرې دلیل ښکاري چې دغه نوټ دپور یو سنددی .[۱۵]

دلومړي نظر په رښا کې دنوټ دیني حکمونه :

ددغه نظر خاوندان په رښاکې دنوټ په اړه لاندې شرعي حکمونه بیانوي.

لومړی حکم :

د شتمن سړي غاړه د زکات له فرضیته په دې نه خلاصیږي، چې پې وزله او غریب سړي ته نوټ ورکړي [۱۶] بلکې پې وزله ته بـه پـرې خوراکي توکي رانیسي. له همدې امله به پخوا زمور په سیمو کې هغو علماووچې نوټ به پې سند باله شتمنو تـه ویـل : نـوټ مسکین تـه پـه زکات کې مه ورکوئ ؛بلکې څه شئ ورته پرې اخلئ. چې اوس هم دغه عادت پاتې دی .

دوهم حکم : پر نوټ د زرو پیرل هم سهي نه دي ،ځکه د زرو د پیر (شراء)او پلور(بیع) ته د فقهي په اصطلاح کې((بیع الصرف)) وایي د((بیع الصرف)) د روا والي شرط دادی ،چې زرګر به خپل ګیراک ته زر ورکوي او په بدل کې بـه پـې ګیـراک سمدلاسه د زرو قیمت ورکوي، داچې نوټ پخپله مال نه دی، بلکې دمال سند دی ؛نو څوک چې دوکاندارته د زرو په بدل کې نوټ ورکوي نومعنابـه پـې داوي، چې دوکاندار ګیراک ته زر وسپارل خوپه بدل کې دوکاندار دخپل پلورل شویو زرو بیـه ترلاسه نـه کړه ؛ بلکې د روپـو پرځای پې د زرو سند

---

۱۵ احکام الاوراق النقدیة ۱۷۶مخ داستاد جعید لیکنه.

۱۶ امداد الفتاوی : ۲/ ۵. و ۳/ ۷۹دپوښتنې شمېره : ۹۸. خوپام وي، چې دغه فتوا هغه مهال نوموړي ورکړې ،چې هندی روپی د سپینو زرو وه اونوټ پې رښتیاهم سند و ، خوله هغه وروسته چې هندی روپی له زرو پرته له نورو معدني توکو لکه نیکلو ، ګیلټ اوداسې نورو څخه جوړه شوه اوبانک نوټ د همدې نویو جوړو روپو سند وګرځیده ،اوس نوبیاددغوعلماوو په وړاندې روپی ترمنځ راکړه ورکړه بیع الصرف نه ده ،له همدې امله اوس ددغو علماوو په ووړاندې هم په بانک نوټ باندې زر پیرل اوپلور دواړه روادي ، وګورئ فقه البیوع : دوهم ټوک ۷۲۵مخ لمن لیک .

ترلاسه کړ . ،نوپایله داشوه، چې له یوه لوري زر وسپارل شول، خو له بل لوري بیه ورنکړل شوه او د زرو بیې ته یې لاس رسی (قبض) ونه شو، نوځکه وایوچې په نوټ ((بیع الصرف)) نه سهي کیږي [۱۷].

دریم حکم : د همدې نظر په رڼاکې دنوټونو په خپل منځ ادلون بدلون هم روانه دی، ځکه چې نوټ دپور سند اوهغه بل نوت هم دپور سند، نومعنابه یې داوي، چې یوسړي خپل پور په بل سړي دخپل پور په بدل کې وپلوره، چې دغه ډول راکړې ورکړې ته فقهاء رح پور په پور پلورل (بیع الدین بالدین) یا (بیع الکالي بالکالي) وایي او دغه ډول پیر اوپلور ناروا دی.

څلورم حکم : پر نوټ دسلم ترون (عقد)[۱۸] هم نه سهي کیږي، ځکه چې دسلم په ترون کې باید پانګه لومړی دځمکې خاوند (رب السلم)ته ورکړل شي، چې هغه پرې تخم اویاهم نورې اړتیاوې بشپړې کړي؛ خو دا چې نوټ مال نه دی بلکې د مال او زرو یو ډول سنددی ؛ نوکه چېرته مورد سلم په ترون کې ځمکوال ته نوټ ورکوو ،معنا به یې داوي ،چې مورد نومورې ته د پور سند ورکړ، سره له دې چې د سلم ترون دسهي والي له پاره شرط دادي، چې : نغدې روپۍ باید د ځمکې خاوند ته دمخه ورکړل شي ،چې ورسره دغه ترون دمخکنې ډول ترحکم لاندې راځي، چې خپل پور دبل پور بدل کې پلورل دي چې له دیني پلوه سهي نه دي .

لومړي نظر ته کره کتنه :

داسمه ده چې دغه نظر دخپل وخت شرایطوته په پام سره پرځای نظر و، خو اوس چې نوټ د زرو ملاتړ بایللی دی، نوځکه دغه نظر اوس سهي نه ښکاري . بله داچې : د دې نظر له خپلولو وروسته زمورد ورځنی ژوند له کوموسترو ستونزو او خنډونو سره مخ کیږي ،هغه پته خبره نه ده ،ځکه ددې نظر له منلو وروسته به مورد نوټونو په مرسته هغه ډیر ترونونه(عقدونه) نه شو کولای ، چې مورد به ورته په ورځني ژوند کې اړیو، د پیر او پلور کار به موپه تپه ودریږي ، او دداسې ستونزو پر مهال شریعت مورد ته داسانه لارې غوره کولو لارښوونه کړیده، نومیالي فقیه عبدالرحمن سعدي رح یادو ستونزو ته داسې اشاره کوي :

لایخفی أن جمیع أقطار الدنیا إلا النزر الیسیر کل معاملاتهم فی هذه الأوراق التي تسمی ب((الأنواط)) ، فلو حکم لهاباُحکام السندات والدیون لتعطلت المعاملات فی الوقت الذي تقتضي الأحوال وظروفها فیه غایة التخفیف ۱۹.

۱۷

۱۸ سلم یوداسې ترون ته وایي چې زیاتره وخت یې عام شتمن خلک دخپلو اړتیاوو دپشړولو له پارکوي، داسې چې عام خلک له ځمکوال سره دغنمو اویاهم نورو خوراکي توکو ترلاسه کولو په موخه دغه ترون کوي ، په دې ترون عام خلک ځکموال ته روپۍ مخکې ورکوي، چې نومورې پرې تخم اوداسې نورې دځمکې دکښت چارې ورباندې بشپړې کړي ،کله چې درمند ورسیږي، نوبیا ځمکوال همدې سړي پلور شوي غنم تاکلي اندازه ورکوي .

۱۹ فتاوی سعدیه : ۱۸۲مخ .

ژباړه : دګوتې په شمېر خلکو پر ته نور ټول نړۍ وال اوس پر همدې نوټو پیسو او پلور کوي ؛ نو که چېر ته داسې وویل شي چې : دغه نوټ د پور سند ونه دي ؛ نوبیابه ټولې راکړې په ټیپه ودریږي ،سره له دې چې داوس وخت حالاتو او امکاناتو غوښتنه داده، چې په راکړو ورکړو کې باید له ډیرې اسانۍ کار واخېستل شي .

درونداستاد مفتي محمدتقي عثماني په دې لړ کې لیکي :

فیه حرجٌ عظیمٌ، والمعهود من الشریعة السمحة فی مثله السعة والسهولة.

ژباړه :ددې نظر په خپلو کې لوی کړاو او زړه چاودن دی ، سره له دې چې مورد داسې ستونزو پر مهال دشریعت د پراخې او اساني له مزاج سره شناخته او بلد یو.[۲۰]

بله داچې دغه راز تنګي به خلک ونه زغمي ؛ نوبیابه خلک دناروا چارو سر ته رسولو ته به اړ کړای شي ، دغه راز دیاد نظر په اړه کوم قطعي او څرګند شرعي نص کې ددې نظر یادونه شوې نه ده ،چې نوټ یوازې د پور سند دی، چې بیاپکې د بلې خبرې ځای نه وي ،یادو دلایلو ته په پام سره غوره دابرېښي چې : نوټ د پور سند ، ونه ګڼل شي.[۲۱]

په نوټ باندې چې بانک کومه ژمنه لیکلې ده، هغه د نوټ ځینو پړاوونو ته په پام سره لیکل شوې ده ،چې اوس پر ځای ژمنه اوسهې خبره نه برېښي، بلکې هسې هوایي ژمنه اوبې معنا خبره ده، ځکه اوس دهمدې ژمنې تر سره کولو ته هېڅ بانک ژمن اوچمتو نه دی، چې دنوټ خاوند (Holder) ته دنوټ په بدل کې سره زر ورکړي، ځکه اوس د نوټ ترشا نه سره اونه هم سپین شته ، بلکې ددې ژمنې یوازې دومره ګته شته، چې ددې نوټ په بدل کې بل نوټ ورکړي اویاهم کوم تو کی ورکړي، لکه چې د همدې خبرې اقرار نامتو اقتصادپوهه هم کړیدی هغه لیکي :

((په نوټونو باندې کومه ژمنه لیکل شوې، چې : د غوښتنې پر وخت به ددې نوټ خاوند ته دومره .....ورکړل شي دا اوس هسې بې معنا خبره ده او د دې ژمنې په عملي ډګر کې هېڅ ګټه نشته ، ځکه اوسمهال پر همدې نوټونو په عملي ډګر کې هېڅوک چمتو نه دي، چې زر ورکړي که څه هم د نوټو ارزښت اولس (۱۷)پونډه ته هم ورسیږي ،بلکې اوس وخت دغه نوټ د کاغذ یوه ټوټه ده، چې په خپل ځان کې هېڅ راز ارزښت نه لري اوکه چېرته دغه نوټ دبرتانیا بانک ته پر زرو بدلون له پاره وړاندې شي ،نوبانک به ورته نورې سیکې ورکړې اویابه هم په بدل کې نورو نوټونه ورکړي اوس دغه کاغذ نوټ دبرتانیې په ټولو جزیرو کې دود دی.[۲۲]))

---

۲۰ احکام الاوراق النقدیه : ۱۶مخ.

۲۱ زرکا تحقیقي مقاله دمولانا عصمت الله اردو لیکنه : ۱۰۱مخ .

۲۲ انګریزي متن یې په احکام الاوراق النقدیة کې شته مایې یوازې ژباړه وکړه .

یادوخبره ته په پام سره خو اوس ځینوهېوادونو لکه امریکا اوسعودي عربستان دغه ژمنه له خپلو بانک نوټونو لېرې کړیده[۲۳] اوپرځای یې نورې جملې داسې لیکلی دي[۲۴] :

په ډالر داسې لیکل شوي :

This not is legal tender for all debars,public and private

ژباړه : دغه قانوني روپۍ دټولو شخصي اوحکومتي پورونو پرې کولو وړ تیا لري .

په سعودي ریال داسې جملې لیکل شوي دي :

طبعت في عهد خادم الحرمين الشريفين الملک سلمان بن عبدالعزيز آل سعود بموجب المرسوم الملکي رقم کذا ..

ژباړه : دغه نوټ دحرمینو شریفینو دخادم سلیمان پاچا د عبدالعزیز زوی دال سعود کورنۍ په پاچایي کې د .... شمېر فرمان له مخې چاپ شو .

اوعربي اماراتو داسې عبارات وربانديې لیکلی دي :

ورقة نقدية مضمونة القيمة بموجب القانون

ژباړه : ددغه بانکی نوټ قیمت به دقانون له مخې ورکول کیږي .

لنډه داچې دغه ژمنه (Promise) دنوټ روپوالي (ثمنیت) ته په حقیقت هېڅ ډول زیان نه اړوي ؛ بلکې په راکړه ورکړه کې پر نوټ د خلکو وېسا (اعتماد) نور هم پیاوړی کوي . نو د پورته دلایلو په رڼا کې وایوچې : لومړی نظر ډېر کمزوری او عملي کول یې ګران بریښي اود نن ورځو حالا تو او اړتیاوو ته په پام سره نه شي غوره کیدلا ی .

بله داچې حکومت که داومني ،چې دغه بانک نوټ سند دی ،خو حکومت ددې واک لري ،چې له هر ډول روپۍ څخه چې که هغه د اوسپنې اویاهم نیکلو اویاهم ګیلټو څخه جوړې وي ،چې دفلوس په نامه به یاد یدلې، چې هغه رواجي روپۍ کړې دغه راز کولای شي، چې بانک نوټ هم دودي شوې روپۍ (عرفي ثمني) کړي .۲۵

---

۲۳ که څه پاکستان او افغانستان په بانک نوټونو هغه زړه ژمنې لیکلې پاتي دي

۲۴ فقه البیوع دوهم ټوک مخ .

۲۵ فقه البیوع : دوهم ټوک : ۷۲۸.

آیا واقعا موسیقی غذای روح بشر و موجب وصال است؟

حمیدالله امرخیل

موسیقی موجب وصال نبوده، بلکه خیال وصال را در انسان تحریک می کند نمی دانیم اگر انسانها به این اندازه به موسیقی اشتغال نمی ورزیدند و با خود واقعیت ها و روبرمی گشتند چه اندازه راه ترقی و اعتلا را می پیمودند!!! باید به این نکته مهم توجه داشت، درست است که تحریک مثبت تشجیعی را که موسیقی انجام می دهد ما را از موجودیت حقیقی خود ما بایک گروه نوسانات بالاتر می برد ولی هنگامی که موسیقی تمام می شود یک سرازیری حقیقی را درخود احساس می کنیم و می بینیم که موسیقی سایه ای از مابرای ما آراسته وآنرا بالابرده بود. اگر موسیقی آن چنان که عاشقان دلباخته اش می گویند حقیقتا روح انسانی را تصفیه می کند چرا باشیوع موسیقی در شرق و غرب دوران بیماری های روانی و فساد اخلاقی به حدی است که گفتگو در باره آن باعث شرمساری است. نقش موسیقي در امراض رواني و عصبي دانشمندان فیزیولوژی دستگاه عصبی انسان را ب؟ دو قسمت تقسیم می کنند:

سمپاتیک و اعصاب نباتی:

اعصاب نباتی شامل دو طبقه سمپاتیک و پاراسمپاتیک است وظیفه اعصاب سمپاتیک در بدن عبارت است از: تنگ کردن رگها، انقباض عضلات صاف، ایجاد ترشح و تقلیل فشار خون این دو قسمت از اعصاب نباتی (سمپاتیک و پاراسمپاتیک) چون در بدن اعمال مخالف یکدیگرا انجام میدهند تا هنگامی که از خارج تحریکاتی

برآنان وارد نیاید به موازات یکدیگر فعالیت کرده نظم و تعادل بدن را حفظ می کنند ولی اگر در اثر تحریکات خارجی تعادل این دوسلسله عصبی از بین برود، ضرر های جسمی فراوان و اختلالات روانی بیشماری برای شخص ببارخواهد آمد، یکی از مهم ترین عوامل، تحریک خارجی که توازن و تعادل بین سمپاتیک و پاراسمپاتیک را برهم می زند ارتعاشات موسیقی است.

مهمترین آثار خطرناک موسیقي به نظر مجامع بزرگ طبی (صحی) جهان موسیقی عامل مهم ضعف اعصاب است، مهمترین اثری که موسیقی برای شنونده می بخشند همانا تضعیف اعصاب است، این موضوع بدرجه دارای اهمیت است که اروپا را دچار وحشت نموده زیرا خود ضعف اعصاب نیز سرچشمه امراض دیگری است. و مهم ترین عامل پیدایش هر گونه ناراحتی جسمی و روانی است. بدین جهت مطالعات زیادی از طرف مجامع صحی جهان روی این مرض و علل پیدایش آن به عمل آمده و در نتیجه بزرگترین عامل این بیماری خطرناک همان اشاعه موسیقی و کنسرت تشخیص داده شده است.

و این نظریه مورد تائیدعده زیادی دانشمندان اروپا و امریکا واقع شده و به تدریج مورد تصدیق همگی گردید.

داکتر (ولف آدلر) پروفیسور پوهنتون کلمبیا می گوید: بهترین و دلکشترین نواهای موسیقی شوم ترین آثار را روی سلسله اعصاب انسان باقی می گذارد. کشفیات وی چنان در امریکا تاثیر نموده که هزاران نفر طرفدار او شدند و موسیقی را برخود حرام کرده و تقاضای جلوگیری از کنسرت عمومی راکردند.

موسیقي عامل ضربان و سکته قلبي یکی از علل مهم ضربان و سکته قلبی استماع موسیقی به شمار آمده است. در این رابطه داکتر (اوریزن اسوت مارون) می گوید: هیجان بزرگترین عامل سکته های قلبی است و هنرمندان موسیقی اغلب به علت سکته قلبی درگذشته اند از این نکته معلوم می شود که هیجان حاصله از موسیقی تا چه حد خطرناک است.

